# غرور او د هغه علاج

لیکوال:

امام محمد غزالی

ژباړن:

عبدالمالک (همت)

**د کتاب نوم:** غرور او د هغه علاج
**د کتاب فارسي نوم:** تکبر و راه علاج آن
**ليکوال:** امام محمد غزالی
**ژباړن:** عبدالمالک (همت)
**موضوع:** موعظې او حکمتونه
**د چاپ شمېر:** لومړي (ديجيتال)
**د چاپ تاريخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق
**سرچينه:**

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

**برېښنا ليک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

په عقيدې سايت کي ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب فهرست

**د کتاب فهرست.................................................... أ**

**د دوهم چاپ سریزه ................................................ ۱**

**د ژباړن سریزه.................................................... ۳**

**د کتاب او د هغه د مؤلف په هکله لنډي څرګندوني ........................ ۵**

( أ) د دې کتاب د مؤلف په هکله:................................ ۵

(ب) علمي مقام او تاليفات يې: .................................. ٦

(جـ) د دې کتاب په هکله: ...................................... ۷

**د «غرور او د هغه علاج» په نامه د «الکشف والتبيين في غرور الخلق اجمعين» پښتو ژباړه ........................................................ ۹**

لومړی فصل: په دې هکله چي که مسلمان د لوی ځښتن اوامر پر ځای نه کړي او په شهوتونو ککړ سي که څه هم په ژبه او عقايدو مسلمانان وي، خو په غرور کي د کفارو سره شريک دی ........................................................ ۱۲

دوهم فصل: د هغو کسانو د ويناوو په هکله چي په فسادونو اخته وي او بيا وايي چي خدای غفور او رحيم دی.................. ۱٦

دريم فصل: د هغو کسانو د اشتباه په بيان کي چي ګنهونه ترسره کوي او په لږ طاعت د عفوي هيله لري.......................... ۱۹

ځلورم فصل: د هغو کسانو په بیان کي چي ګومان کوي طاعتونه يې تر معاصيو زيات دي. ............................................ ۲۰

**د مغرورانو او تېروتلو اصناف او په هر صنف پوري اړوندي ډلي ............... ۲۱**

لومړی صنف: له مغرورانو څخه عالمان دي او هغوی څو ډلي دي ..................................................... ۲۱

دوهم صنف: له مغرورانو څخه د عبادتونو او ښو اعمالو ترسره کوونکي دي.................................................. ۳۹

دريیم صنف: له مغرورانو څخه پانګوال دي..................... ٤۸

ځلورم صنف: له مغرورانو څخه صوفي ډوله خلک دي ....... ٥٤

**د ژباړن لنډه پېژندنه ................................................ ۶۴**

# د دوهم چاپ سریزه

د لوی څښتن تر حمد او پر حضرت محمد او د هغه پر آل او اصحابو باندي تر درودونو او سلامونو ویلو وروسته.

لکه چي څرګندیږي پر ګران اسلامي هیواد افغانستان باندي د امریکایي او لویدیزو سیکولرو، عیسویانو او یهودو تر هجوم او تیري وروسته، د نړۍ مسلمانان، په تیره د افغانستان مسلمان ولس تر پخوا زیات ویښ او په هره ساحه کي د ګران اسلام او اسلامي اورشوګانو د ننګي او دفاع لپاره لاس په کار سول. ځینو د وسله وال جهاد مورچلونو ته ورودانګل، ځینو د تبلیغ او دعوت چاري چټکي کړې، ځینو هم خپل مغزونه او قلمونه تر پخوا ډېر زیات په کار واچول او نوروهم نوري هلي ځلي په لاره واچولې. په دې توګه د هري برخي ننګیالي ډېر سول، خو د کتاب لیکلو، کتاب خپرولو او کتاب لوستلو اتلان او مینه وال ماشاءالله خورا ډېر سوي دی. له دې امله دی چي په نړۍ، سیمه او افغانستان کي د کتاب خپرولو او د هغه د پېر او پلور کاروبار خوا په خوند او مزه کي روان دی.

له بلي خوا دا دی ګورو چي د نیواکګرو او د هغو د ګومارلو حالت ډېر وجاړ سوی دی، اړیکي یې ترینګلي سوي او د اشغالګرانو سرونه له خپلو لاسپوڅو څخه په درد سوي او ځني بې زاره سوي او له افغانستان څخه د وتلو په تکل لاري چاري لټوي.

په هر ترتیب مور به خپلو کارونو ته په نه ستړي کېدونکې توګه دوام ورکوو او مخ په وړاندي به ځو.

رابه سو د دې کتاب خبري ته. دا کتاب چي یو کال دمخه خپور سو، اوس په کتاب پلورنځیو کي خلاص سوی دي او د هغه خپروونکو (صداقت پرندویي ټولني) د هغه د بیا خپرېدو تکل کړی دی. ځکه نو ما دغه کتاب بیا وکوت او بیامي خپرېدو ته چمتو کړ او اوس دادی د هغه دوهم چاپ ستاسي په لاس کي دی.هیله ده ګران لوستونکی یې مؤلف، ژباړن او خپرندویان له دعا هېر نه کړي. په درناوي.

**عبدالمالک (همت)**

**د ده افغانانو نوآباد، کابل د ۱۳۸۹ل. کال**

**د سلواغې درویشتمه**

# د ژباړن سریزه

قال الله تعالی:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَـٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ۝٦﴾ [الانفطار: 6].

«ای انسانه ته څه شي د خپل هغه مهربان څښتن په هکله مغروره کړې چي ته يې پيدا کړی يې».

محترم لوستونکې!

دغه رساله چي د اسلام د ستر پوهاند او متفکر حضرت حجة الاسلام امام ابي حامد محمد بن محمد غزالي رحمه الله (په ۵۰۵ سپوږمیز کال مړ) له آثارو څخه ده، د يوې ډېري مهمي او ارزښتناکي موضوع په هکله ليکل سوې ده. له دې څخه د مؤلف موخه دا ده چي د وګړو د بېلو بېلو ډلو په وجود کي د غرور او غولوني له ټولو لاملونو څخه پرده پورته کړي، څو انسان د غولوونکو ښکارندو په د قيق پېژندلو او له هغو څخه په ډډې کولو سره وکولای سي د بشپړتيا او همتناکۍ پر لور وخوځي او د هر بې ارزښته موجود په وړاندي سر ټيټ نه کړي. څُوله بېله خدايه د بل چا په وړاندي په غوړه مالۍ خلاصه نه کړي او انساني او اسلامي ستر ارزښتونه د هر ټيټ ساکښ پښو ته ونه غورځوي.

ليکوال هغه چاري او عيبونه چي د وګړو د هري ټولۍ د غرور لامل ګرځېدلي دي په څرګندو ټکو کي ښوولي او د دردونو د درملني لار يې هم په ګوته کړې ده. چي په دې توګه يې د انسان د اروا د

سلامتیا لپاره ستر خدمت کړی دی. هیله ده د دغه کتاب ژباړه د مؤلف د موخي د ترسره کېدو په لاره کي اغېزمنه جوته سي، لوستونکو ته ګټوره او د لوی څښتن په وړاندي د منلو وړ وګرځي.

د لته باید یادونه وکړم چي ښاغلي حمدالله صحاف د دغي ارزښتناکي رسالي عربي متن او د هغې فارسي ژباړه ماته وسپارل او غوښتنه يې وکړه چي هغه ګراني پښتو ته راواړوم. ما هم د ده وړاندیز ومانه او د رسالې ژباړه مي چمتو کړه. خو هغه دغه رساله او زموږ څو نور کتابونه څه باندي یو کال د ځان سره ساتلي وه او چاپ يې نه کړه. بالاخره يې د نه خپرولو عذر خپله ناروغي او اقتصادي ضعف وښود.

بیا صداقت خپرندویي ټولني د دې او نورو ټولو کتابونو د چاپولو کار په ورین تندي پر غاړه واخیست. چي دادی د دې ټولني په همت د دغي ارزښتناکي رسالې ژباړه ستاسي ترلاسونو دروړسېده. له لوی څښتن ﷻ څخه هیله من یم چي موږ ټول پر سمه لار برابر کړي او خپل رحمت او مغفرت را باندي ولوروي.

**عبد المالک «همت»**
**پیرمحمد کاکړ واټ، درېیمه ناحیه، کندهار،**
**د ۱۳۸۸ ل. کال د غبرګولي شپږویشتمه**

## د کتاب او د هغه د مؤلف په هکله لنډې څرګندونې

### ( أ) د دې کتاب د مؤلف په هکله:

د دې کتاب لیکوال ستر او نامتو عالم علامه زین الـدین ابوحامـد محمد بن محمد بن محمد بن احمد غزالي رحمه الله دی. څنګه چې یې د ښېلو ښېلو ډلو ټېلو په وړاندې په خپل اند او قلم او مناظرو لـه اسـلامي عقایدو څخه په کلکه ننګه کړې ده نـو د حجـة الاسـلام لقـب ورکـړه سوی دی.

په ٤٥٠ سپوږمیز (١٠٥٨ع.) کال د خراسان د طـوس پـه طـابران ښـار کـې زېږېـدلی دی. کلـه چـې لا کـوچنی وو د پـلار د شـفقت لـه سـیوري بـې برخـې سـو. خولـه هماغـه کوچنیـوالي څخـه د خپـل کشرورور احمد غزالي سره یوځای په کلک هـوډ د علـم او پـوهې پـه ترلاسه کولو بوخت سو، چې پای لوی او ستر عالم ځني جوړ سو.

د عربي ژبې مبادي او اصول یې په خپل ښـار کـې زده کـړل، فقـه یې پر احمد بن محمد الرادکاني ولوستل، بیا جرجان ته ولاړ او هلته یې له امام ابو نصر اسـماعیل جرجـاني څخـه زده کـړې وکـړې، بیـا نیشاپور ته ولاړ او فقه، جدل، منطق، فلسفه، کلام او اصول یې پرابو المعـالي عبـدالمالک الجـویني چـې پـه امـام الحـرمین مشـهور دی ولوستل. خو بیا یې پر بـل اسـتاد سـبق ونـه وایـه. د امـام جـویني تـر مړیني وروسته عراق ته ولاړ. کله چې د عباسي خلافـت مرکـز بغـداد ته ورسېدی پوه سو چې د ده تر ورتلو دمخه یې شهرت دغه ځای ته

رسېدلی دی. هغه وو چې د سلطان ملکشاه سلجوقي د وزیر خواجه نظام الملک طوسي (په ٤٨٥سپوږمیز کال ووژل سو) سره یې په ٤٨٤ سپوږمیز کال ولیدل. هغه د بغداد په نظامیه مدرسه کي د تدریس چاري وروسپارلې. په دې توګه هلته د څلورو کالو لپاره د علم په خپرولو او تدریس او د کتابونو په لیکلو بوخت سو.

بیا حجاز ته وخوځېد او حج یې وکړ. بیا شام ته ولاړ او تر څه مهاله په دمشق کي واوسېد. په بیت المقدس کي هم نژدې دوه کاله واوسېد او هلته یې خپل ځیني کتابونه ولیکل. دغه راز وایي چې هغه مصر ته هم تللی او په اسکندریه کي اوسېدلی او بیا خپل وطن ته ستون سوی او په خلوت، عبادت او لیکنو بوخت سوی. بیا فخرالدین بن نظام الملک د نیشاپور په مدرسه کي د تدریس چارو ته وګوماری خو تر لږ مهال درس ورکولو وروسته بیرته طوس ته وخوځېد او په خپل کور کي یې استوګنه غوره کړه او ټول پام یې د بېلو بېلو پوهنو مراجعي او د احادیثو مطالعې ته واړاوه او په عبادت بوخت سو. بالاخره په ٥٠٥ سپوږمیز (١١١١ع.) کال د پنځه پنځوسو کلونو په عمر وفات سو او د طوس په طابران کي د نامتو شاعر فردوسي قبر ته نژدې خاورو ته وسپارل سو.

نصیب حجة الاسلام زین سرای سپنج
حیات پنجه وپنج و وفات پانصد وپنج

## (ب) علمي مقام او تالیفات یې:

امام غزالي رحمه الله د هغه له مهال څخه تر اوسه پوري د علماوو په منځ کي د ستر مقام او ښه نامه څښتن دی.

هغه په بېلو بېلو علومو او معارفو کي ژوري مطالعې درلودې او لوی ځښتن د مطالعې د فراخوالي او بيان د ځواک او د استنتاج د ژورتيا په هکله ستره لورينه پر کړې وه. لکه چي هغه په بېلو بېلو علومو لکه فلسفه، کلامپوهنه، فقه، تصوف، اخلاقو او نورو کي ډېر کتابونه او رسالې وليکلې. هغه د علومو په تر لاسه کولو، شنلو او شرح کولو کي تر ډېرو علماوو مخکي سو. د هغه ډېر کتابونه د نړۍ په بېلو بېلو ژبو ژباړل سوي او د نړۍ ستر پوهان او د فکر خاوندان يې په مطالعه، څېړنه، ژباړه او تدريس بوخت دي.

امام غزالي د ډېرو کتابونو او رسالو د ليکلو له امله له هغو په ګوتو شمېر کسانو څخه ګڼل سوی چي د علومو په مختلفو څانګو کي په ډېرو تاليفاتو شهرت لري.

د ده له مهمو کتابونو څخه دي:

إحياء علوم الدين، تهافت الفلاسفة، المنقذ من الضلال، مشكاة الأنوار، معيار العلم في المنطق، ميزان العمل، فيصل التفرقة بين الاسلام والزندقة، القسطاس المستقيم، قواعد العقائد في التوحيد، منهاج العارفين، کيميای سعادت، إلجام العلوم عن علم الكلام، معراج السالكين، او نور کتابونه او رسالې

دغه راز امام غزالي ته نور ډېر کتابونه هم منسوب دي چي کېدای سي د ده نه وي، چي زيات د خطي نسخو په بڼه دي.

## (جــ) د دې کتاب په هکله:

د حضرت امام غزالي دغه کتاب چي ستاسو په لاس کي دی او اصل يې «الكشف و التبيين في غرور الخلق اجمعين» نوميږي او

ځينو «مغاليط المغرورين» بللی دی، په تصوف کې د هغه له ډېرو مهمو کتابونو څخه دی. د ځينو پوهانو په اند د هغه ارزښت تر هغه کتاب کم نه دی چې «المنقذ من الضلال» نوميږي کوم چې د امام غزالي په کتابونو کې تر ټولو ستر نوم لري.

دغه کتاب سره له دې چې لږ پاڼې او کوچنی حجم لري پر ډېرو داسې ګټورو معناوو مشتمل دی چې لوستونکي د ديني آدابو بشپړ پلي کولو، د بدن د غړو مراقبت، پر صحيح طريقه د عباداتو او طاعاتو تر سره کولو، د دنيا د مفاتنو ترک وهلو او د شيطان د مکرونو او چلونو څخه ځان ساتلو ته وربولي.

حضرت امام غزالي له کافرانو پرته مغروره خلک پر څلورو اصنافو وېشلي، او د هر صنف د غرور د لايل يې ويلي او د هغه د علاج ډېرې ښې لارې چارې يې ښولي او په ګوته کړې دي.

# د «غرور او د هغه علاج» په نامه د «الكشف والتبيين في غرور الخلق اجمعين» پښتو ژباړه

﴿إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٩﴾ [الزمر: 9].

«يقيناً نصيحت هغه كسان مني چي د پوهي څښتنان وي».

الحمد لله وحده، وصلى الله على خير خلقه سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وبعد:

وګړي پر دوو ډلو وېشلي دي: حيوان او غير حيوان (ژوندی موجود او ناژوندی موجود). حيوان (ژوندی موجود) هم دوه ډوله دی: مكلف او غير مكلف. مكلف هغه دی چي د لوی څښتن له لوري خطاب ورته سوی وي او په عبادت امر سوی وي او پر هغه باندي يې د اجر وركولو وعده وركړې وي. دغه راز يې له ګناهونو منع كړی وي او د هغو له عذابه يې بېرولی وي. البته غير مكلف هغه دی چي لوی څښتن په دې چارو نه وي مخاطب كړی. بيا مكلف دوه ډوله دی: مومن او كافر. مومن دوه ډوله دی: اطاعت كوونكی او نافرمانه. بيا اطاعت كوونكي او نافرمانه هم پر دوو ډلو عالم او جاهل باندي وېشل سوي دي.

تر دې وېش وروسته راته څرګنده سوه چي ټول مكلفين، مومنان دي كه كافران بيله هغو كسانو چي لوی څښتن ژغورلي دي، د غرور په لومو كي ښكېل سوي دي. زه به كه د خدای رضا وه د غرور له غولوونكو مظاهرو څخه پرده پورته كړم، مكلفين به په حقيقت پوه

کړم. په دې هکله به په ډېر وضاحت او څرګندتیا سره لنډې څرګندوني او اشارې وکړم وما توفیقي الا بالله.

پوه سه چي له وګړو څخه مغرورين، بېله کافرانو څلور ډلي دي: يوه ډله له علماوو څخه ده، بله له عبادت کوونکو څخه ده، بله له پانګوالو څخه ده او بله هم له صوفيانو څخه ده. البته کافران بيا په خپل غرور کي دوې ډلي دي: ځيني مادي ژوندانه تېر ايستلي دي او ځيني شيطان تېر ايستلي او مغروره کړي دي.

هغه کسان چي د دنيا مادي ژوندانه تېر ايستلي دي، هغه دي چي وايي: نغدي تر نسيه (هغه بيه چي وروسته ورکول کيږي ؛ پور) ښه دي دغه راز وايي چي: د دې دنيا خوندونه يقيني دي، خو د هغې دنيا خوندونه غير يقيني او ناڅرګند دي. چي په شتون کي يې شک دی. ځکه نو نه سي کېدای د هغه څه لپاره چي په وجود کي يې شک وي تر موجودو يقيني شيانو تېر سو.

خو دا قياس او اټکل ناسم دی. ابليس لعين دغسي استدلال او اټکل وکړ او ويې ويل :

﴿أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ﴾ [الأعراف: 12].

«زه تر آدم غوره يم».

هغه ګومان کاوه چي لوړ والی په سبب کي دی. د دې غرور علاج په دوو شيانو کيږي: يا يې په تصديق درملنه کيږي کوم چي ايمان راوړل دي يا يې په دليل او برهان درملنه کيږي. تصديق دادی چي سړی د لوی څښتن دغه ويناوي ومني چي فرمايي:

﴿وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ﴾ [القصص: 60].

«اوځه چي د لوی څښتن سره دي، هغه تر دې ډېر غوره او ببخي پاته کېدونکي دي».

﴿وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ١٨٥﴾ [آل عمران: 185].

«او د دنيا ژوند صرف يو غولوونکی شی دی».

دغه راز هغه څه چي د لوی څښتن پيغمبرﷺ راوړي دي هغه هم تصديق کړي.

د دليل په هکله:سړی بايد د خپل دليل او قياس په فساد او ناسمتيا پوه سي. دا چي ويل کيږي «دنيا نغده او آخرت پور دی». مقدمه يې درسته ده. اما دا چي وايي: «نغدي تر پور ښه دي». په دې کي التباس راغلی دی او واقعيت دغسي نه دی. ځکه که نغدي په کچه او موخه کي د پور سره برابري وي، نو نغدي ښې دي، خو که نغدي تر پور لږ وي بيا خو نو پور ښه دی. بل لکه چي څرګنده ده آخرت تل تر تله دی او دنيا تېرېدونکې ده. او دا چي وايي د دنيا خوندونه يقيني دي او د آخرت په خوندونو کي شک دی. دا استدلال هم ناسم او باطل دی. ځکه چي د مومنانو په اند آخرت يقيني دی او د دې يقين لپاره دوه مدرکه سته: يو له انبياوو او عالمانو څخه د تقليد او پيروۍ په دود ايمان او تصديق دی. لکه څنګه چي د درملو په تجويز، خوړلو او استعمال کي له پوه درملګر (طبيب) څخه تقليد کيږي. او بل انبياووته وحي او اولياوو ته الهام دی. خو داسي ګومان ونه کړې چي د آخرت او دنيا په چارو کي د لوی څښتن د پيغمبرﷺ معرفت او پېژندګلوي له جبرايل‌عليه السلام څخه تقليد دی. ځکه چي تقليد سم او صحيح معرفت نه ګڼل کيږي او پيغمبرﷺ لوی څښتن له تقليد څخه مستثنا کړی دی، بلکي ده ته يې

له حقایقو څخه پرده پورته کړې او هغه د بصیرت په رڼا حقایق داسي مشاهده کړي دي، لکه محسوسات چي یې لیدل.

## لومړی فصل: په دې هکله چي که مسلمان د لوی څښتن اوامر پر ځای نه کړي او په شهوتونو کــکړ سي که څه هم په ژبه او عقایدو مسلمانان وي، خو په غرور کي د کفارو سره شریک دی

مسلمانانو چي په ژبه او عقایدو ایمان راوړی دی که د لوی څښتن اوامر چي هماغه صالحه اعمال دي پر ځای نه کړي او ضایع یې کړي او په شهوتونو ککړ سي، په حقیقت کي په دې ډول تېروتنه او غرور کي د کفارو سره شریک دي. په دې توګه د دنیا ژوند د مومنانو او کافرانو دواړو لپاره د غرور لامل دی.

اما د لوی څښتن په وړاندي د کافرانو غرور د ځینو د دې وینا غوندي دی چي په خپل هکله وایي: که لوی څښتن تر مړیني وروسته موږ هماغه لومړي شکل ته وروګرځوي، نو څنګه چي موږ په دې نړۍ کي د دنیا په چارو کي ترنورو وړاندي یو په آخرت کي به هم د دې وړاندیتوب ډېر مستحق یو. لکه چي لوی څښتن د دوی په هکله د قرآن کریم په سورت کهف کي داسي فرمایي:

﴿مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً﴾ [الکهف: 35-36].

ژباړه: «زه ګومان نه کوم چي دا شتمني به یو مهال له منځه ولاړه سي او زما باور نه راځي چي د قیامت ساعت به یو وخت راسي».

د دې غولېدني لامل په هماغه قیاس او استدلال کي د ابلیس پیروي ده. ځکه څنګه چي دوی د لوی څښتن هغو نعمتونو ته ګوري

کوم چې دوی ته يې پر دې دنيا ورکړي دي، نو آخرت هم پر هغو قياسوي، او څنګه چې ويني چې پر دې نړۍ د دوی عذاب ځنډېدلی دی د آخرت عذاب هم دغسي بولي. لکه لوی څښتن د دوی خبري داسي حکايت کوي:

﴿لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ﴾ [المجادلة: 8].

ژباړه: «ولي لوی څښتن زموږ پر دغو خبرو باندي موږ ته عذاب نه راکوي؟».

او څنګه چې مسلمانانو ته ګوري، بې وزلي يې مومي، ځکه نو په سپکه سترګه ورته ګوري او وايي:

﴿أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنۢ بَيۡنِنَآۗ﴾ [الأنعام: 53].

ژباړه: «آيا دا هغه خلک دي چې پر دوی زموږ په منځ کي د لوی څښتن لوربينه او مهرباني سوې ده؟».

او وايي:

﴿لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِۚ﴾ [الأحقاف: 11].

ژباړه: «که اسلام کوم ښه کار وای نو دغه خلک په دې معامله کي تر موږ نه سوای دمخه کېدلای».

او د هغه قياس او استدلال ترتيب چې د دوی په زړونو کي يې ځای نيولی دی دادی چې دوی وايي: څنګه چې لوی څښتن موږ په دې دنيا کي له نعمتونو برخمن کړي يو او پر موږ يې لوربينه کړې ده، نو موږ د لوی څښتن دوستان يو. ځکه چې لوی څښتن خو خپل نعمتونه پر خپلو دوستانو لوروي. په داسي حال کي چې حقيقت داسي نه دی. ځکه کېدای سي لوی څښتن پر يوچا احسان وکړي خو دوست يې نه وي او دغه احسان د هغه د خوارۍ لامل وګرځي او

کرار کرار يې پوپنا کړي. البته دا د لوی څښتن په هکله د غرور او غولېدني له امله دي. له دې امله رسولﷺ فرمايلي دي:

«إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَحْمِي عَبْدَهُ الْمُؤْمِنَ فِي الدُّنْيَا وَهُوَ يُحِبُّهُ كَمَا تَحْمُونَ مَرِيضَكُمْ الطَّعَامَ وَالشَّرَابَ تَخَافُونَ عَلَيْهِ»(۱).

ژباړه: لوی څښتن خپل مومن بنده لره له دنيا څخه داسي پرهېز ورکوي، لکه ستاسي څخه يو چي خپل ناروغ ته له خوړو او اوبو څخه پرهېز ورکوي، په داسي حال کي چي هغه يې دوست وي او د هغه په ناروغي يې خوابدي‌ږي.

د بصيرت د خاوندانو باور به دا وو چي که به شتمني ورته مخه کړه غمجن به سوه، او چي فقر به ورته مخه کړه خوښېدل او ويل يې: دا د صالحانو شعار دی او موږ هرکلی ورته وايو.

لوی څښتن فرمايلي دي:

﴿فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ﴾ [الفجر: 15].

ژباړه: «خو د انسان حال دادی چي د هغه رب کله هغه په وير او کړاو سره په ازميښت کي واچوي، بيا هغه ته عزت او نعمت ورکړي...».

﴿أَيَحۡسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٖ وَبَنِينَ ۝٥٥ نُسَارِعُ لَهُمۡ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ بَل لَّا يَشۡعُرُونَ ۝٥٦﴾ [المؤمنون: 55-56].

ژباړه: «آيا دوی دا انګېري چي موږ چي په مالونو او اولادونو کي د دوی سره مرسته کوو، نو ګواکي دوی ته په ښېګڼو ورکولو اخته يو ؟ نه، داسي نه ده، بلکي د اصلي موضوع په هکله د دوی سره پوهه نسته».

---

۱- دغه حديث احمد او حاکم روايت کړی دی او علامه الباني په صحيح الترغيب والترهيب کي صحيح بللی دی. ژباړن.

﴿سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ۝٤٤ وَأُمْلِي لَهُمْۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ۝٤٥﴾ [القلم:44-45].

ژباړه: «موږ به په داسي توګه دوی په کراره کراره د پوپنا کېدو خوا ته بوزو چي دوی خبر هم نه وي. زه دوی ته وخت ورکوم، زما تدبیر ډېر قوي دی».

﴿فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ۝٤٤﴾ [الأنعام: 44].

ژباړه: «بیا کله چي هغوی هغه نصیحت هېر کړ چي ورته سوی وو، نو موږ د هر ډول سوکالۍ دروازې د هغو لپاره پرانیستلې، تر دې چي کله هغوی په هغو نعمتونو کي چي ور بخښل سوي وه، ښه ډوب سول نو موږ په ناڅاپي ډول ونیول او په دې وخت کي د هغو دا حالت وو چي له هري ښېګڼي څخه نهیلي وه».

هو! څوک چي د غرور او غولوني پر دې ښکارنده ایمان لري پر لوی ښښتن ایمان نه راوړي. ښرګنده ده چي د دې غرور منشاء د لوی ښښتن او د هغه د صفاتو په هکله جهل دی.

څوک چي لوی ښښتن وپېژني د هغه له تدبیر څخه نه منکر کیږي. آیا دغه خلک د فرعون، هامان او نمرود احوال نه ګوري، چي څنګه لوی ښښتن شتمنۍ او نور ډېر امکانات ورپه برخه کړه او بیا د خدای له عذابه په امان کي پاته نه سول.

لوی ښښتن وګړي د ګناه او فساد څخه منع کړي دي او ورته ښرګنده کړې یې ده چي هغه قادر مطلق ذات کولای سي د دوی پوپنا کېدو ته لار اواره کړي، لکه چي فرمایي:

﴿أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩٩﴾ [الأعراف: 99].

ژباړه: «د لوی څښتن له پټ تدبير څخه هغه قوم بې‌غمه کيږي چي پوپنا کېدونکی وي».

دغه راز فرمايي:

﴿وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٥٤﴾ [آل عمران: 54].

ژباړه: «بيا کافرانو دسيسې پيل کړې. په مقابل کي لوی څښتن هم خپل پټ تدبير په کار واچاوه او په داسي تدبيرو نو کي لوی څښتن تر ټولو وړاندي دی».

او فرمايي:

﴿فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ١٧﴾ [الطارق: 17].

ژباړه: «بيا نو ای پيغمبره! دې کافرانو ته مهلت ورکړه او دوی لږ غوندي پر خپل حال پرېږده».

نو پام کوه! لوی څښتن به دي په ډېرو نعمتونو ونازوي، خو پای به هغه ستا د نابودۍ او عذاب لامل سي!

## دوهم فصل: د هغو کسانو د ويناوو په هکله چي په فسادونو اخته وي او بيا وايي چي خدای غفور او رحيم دی

د مومنو ګنهکارانو غرور بيا په دې کي دی چي وايي خدای غفور او رحيم دی. هغوی پر دې خبره په توکل کولو سره په نېکو اعمالو کي سستي کوي.

دا خبره په دين کي د هيله منديٰ په برخه کي ښه ده ؛ د لوی څښتن رحمت زيات او ناپايه دی؛ نعمت يې پر ټولو وېشلی دی ؛

کرم او سخا يې عامه ده او موږ موحد مسلمانان د ايمان او د هغه د کرم او احسان په وسيله د هغه له ستر درباره د عفوي هيله لرو.

ډېر ځله بيا د ګناه پر مهال د دې هيله مندۍ بنسټ د ميندو او پلرونو غوره کارونه وي. چې دا د غرور وروستۍ پوړۍ ده. ځکه د دوی مور او پلار سره د دې چې صالح او پرهېزګاره وه، په عين حال کې له خدايه په بېره کې هم وه. په دې هکله ابليس د دوی دا ناسم قياس او استدلال دوی ته ښه او ښايسته ايسولی دی چې څوک چې د يوچا دوست وي د هغه اولادونه يې هم دوستان وي. نو څنګه چې ستاسي ميندي او پلرونه د خدای دوستان وه، تاسي هم د هغه دوستان ياست او عبادتونو ته څه اړتيا نه لرئ.

پر دې ناسم بنسټ هغو توکل کړی او د لوی ښتن په باره کې د غرور ښکار سوي دي. دا خواران نه دي پوهېدلي چې نوحؑ وغوښتل چې خپل زوی له توپانه وژغوري او په بېړۍ کې يې کښېنوي، خو لوی ښتن منع کړ او د هغه زوی يې د هغه تر ټول قوم په بده توګه غرق کړ.

دغه ډله خلک نه دي پوهېدلي چې پيغمبرﷺ له لوی ښتن څخه هيله وکړه چې د هغه د مور د قبر د زيارت او هغې ته د بخښني په هکله اجازه ورکړي، خو لوی ښتن د هغه د مور د قبر د زيارت اجازه ورکړه اما د هغې د استغفار اجازه يې ورنه کړه. دغه راز يې د لوی ښتن دا وينا هېره کړې ده:

﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ﴾ [الأنعام: 164].

ژباړه: «هيڅ پورته کوونکی د بل پېټی نه پورته کوي».

﴿وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ٣٩﴾ [النجم: 39].

ژباړه: «او دا چې د انسان لپاره هیڅ نسته مګر هغه چې هغه یې سعی کړې ده».

نو څوک چې فکر کوي د پلار په تقوا به وژغورل سي داسې مثال لري لکه د پلار په ډوډۍ خوړلو چې مړیږي یا د پلار په اوبو چیښلو اوبیږي.

تقوا یو داسې فرض عین دی چې پلار نه سي کولای هغه د زوی پرځای تر سره کړي. بلکې د تقوا د بدلې ورکولو پرمهال انسان له ورور، مور، پلار، مېرمنې او زوی څخه بېله شفاعته په نورو برخو کې ګوښه ګرځي. دغه راز دوی د رسولﷺ دا وینا هېره کړې ده:

«الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللَّهِ»[1].

ژباړه: «هوښيار هغه څوک دی چې خپل نفس خوار کړي او د آخرت او تر مړينې وروسته مهال لپاره کار وکړي. او بې وزلی هغه څوک دی چې د خپلو نفساني غوښتنو پيروي وکړي او بيا له خدايه د عفوې هيله ولري».

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ يَرۡجُونَ رَحۡمَتَ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢١٨﴾ [البقرة: 218].

ژباړه: «کومو خلکو چې ايمان راوړی دی او چا چې د خدای په لار کې خپل کور وطن پرې ايښی او جهاد يې کړی دی، هغوی حق لري چې

---

۱- دغه حديث ترمذي، احمد، بيهقي او طبراني روايت کړی او علامه الباني په السلسلة الضعيفة او نورو کتابونو کې ضعيف بللی دی. ژباړن.

د خدای د رحمت هیله من وي او لوی ښتن د هغو د خطاوو بخښونکی او پر هغو د خپل رحمت لوروونکی دی».

بل ځای فرمایي:

﴿جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٢﴾ [التوبة: 82].

ژباړه: «دا هغو ته د هغو په مقابل کي چي تر سره کړي یې دي، همداسي جزا ده».

نو چا چي ښه اعمال نه وي تر سره کړي، امید یې جایز دی؟

که مخکي تر مخکي چا څه نېک عمل نه وي لېږلی او هیله من وي نو دغسي هیله مندي له غرور او غولېدني پرته بل څه نه بلل کیږي. او دا چي په شریعت کي هیله ستایل سوې ده له هغې څخه موخه داده چي د هیلي سره به بېره او بې برخیتوب جوخت ګڼي. د دې ګټه قرآن کریم بیان کړې ده او د هیلي د زیاتوب تشویق د ښه عمل د ترسره کېدو سره سوی دی.

## دریم فصل: د هغو کسانو د اشتباه په بیان کي چي ګنهونه ترسره کوي او په لږ طاعت د عفوي هیله لري

د خلکو یوه بله ډله هم سته چي په غرور کي په مخکني فصل کي د بیان سوي ډلي غوندي ده او یو بل ته ورته دي، خو دغه ډله هم یوڅه طاعتونه کوي او هم په ګناه اخته وي اما ګنهونه یې تر طاعتونو زیات وي او د مغفرت هیله لري او ګومان کوي چي ښایي د نېکیو تله یې د بدیو تر تلي درنه سي.

دا لویه ناپوهي ده، او دا داسي مثال لري چي یو سړی څو روپۍ چي له مشروع او نامشروع لارو یې ټولي کړي وي خیرات کړي، خو

په مقابل کي يې د خلکو له شتو او حرامو يا شبهه ناکو مالونو څخه څو برابره واخلي او بيا هيله لري چي که لس روپۍ په يوه تله کي واچوي او زر روپۍ په بله تله کي کښېږدي، هغه لس روپۍ به تر زرو روپو زياتي سي، چي دا څرګند جهل اوښکاره ناپوهي ده.

## څلورم فصل: د هغو کسانو په بيان کي چي ګومان کوي طاعتونه يې تر معاصيو زيات دي.

ځيني خلک سته چي ګومان کوي طاعتونه يې تر ګنهونو زيات دي. دغه تصور له هغه ځايه سرچينه اخلي چي سړی له ځانه پوښتنه نه کوي، حساب نه ځني اخلي او خپلو ګنهونو ته پام نه اړوي، که کوم عبادت ترسره کړي، هغه شمېري او حفظوي يې، لکه يو سړی چي په خوله د خدای ذکر کوي او هر شواروز مثلاً سل يا زر واره ورد وايي او بيا د مسلمانانو غيبت کوي او د ورځي په اوږدو کي هغه څه هم تر سره کوي چي د لوی څښتن نه وي خوښ، دغه سړی د ذکر او تسبيح فضيلت مني خو د درواغو، چغلۍ، او نفاق له ناوړو او خطرناکو پاپلو بې خبره وي. چي دا خپله غرور او د ځان غولونه ده. ځکه تر تسبيح ويلو له بدو يلوڅخه د خولې ساتلو په هکله ډېر ټينګار سوی دی.

## د مغرورانو او تېروتلو اصناف او په هر صنف پوري اړوندي ډلي

### لومړی صنف: له مغرورانو څخه عالمان دي او هغوی څو ډلي دي

1- له عالمانو څخه یوه ډله د هغو ده چي کله يې شرعي او عقلي علوم زده کړل، ښه يې وڅېړل او په بوخت سول، نو د خپل بدن د غړو دندو ته پاملرنه پرېږدي، له ګنهونو څخه د هغو په ساتنه کي سستي غوره کړي او خپل ځان په طاعت کولو ملزم نه ګڼي، بلکي په خپله پوهه داسي مغروره سي چي ګومان کوي د لوی څښتن په حضور کي ښېل او ځانګړی ځای لري او په پوهه کي داسي مقام ته رسېدلي دی چي لوی څښتن عذاب نه ورکوي، بلکي د خلکو په هکله د دوی شفاعت هم مني او دوی د دوی د ګنهونو له امله نه مؤاخذه کوي. دا مغروره ډله ده او رشتیا چي تېروتلې ده. ځکه که هغو د بصیرت په سترګو کتلای هرو مرو پوهېدل چي علم پر دوه ډوله دی. یو د معاملې علم، بل د مکاشفې علم، کوم چي د لوی څښتن او د هغه د صفاتو په اړه دی. خو ښایي چي د معاملې علوم زده سي څو مطلوب حکمت په بشپړه توګه ترلاسه سي، کوم چي د حلالو او حرامو پېژندل او د نفس د بدو او ښو اخلاقو په هکله خبرېدل دي.

د عالمانو د دې ډلې کیسه کټ مټ د هغه چا غوندې ده چې خپله تقوا نه لري، خو نور تقواته هڅوي یا یې مثال د هغه درملګر دی چې خلک درملوي خو خپله ناروغ وي.

څرګنده ده چې دغه درملګر خپل ځان هم تداوي کولای سي، خو نه یې تداوي کوي. نو آیا په دارو دارو ویلو یا د درملو د اوصافو په څرګندولو د ناروغۍ درملنه کیږي؟ هیڅکله نه!هو، درمل هله لګیږي چې ناروغ پرهېز وکړي. دغه ډله د لوی څښتن له دې فرمودې څخه غافله سوې ده:

﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝﴾ [الشمس: 9-10].

ژباړه: «په رشتیا سره هغه چا بری ترلاسه کړ چې د نفس تزکیه یې وکړه، او ناکام سو هغه څوک چې خپل نفس یې ککړ کړ».

لوی څښتن نه دي ویلي چې هغه چا بری ترلاسه کړ چې د نفس په تزکیه پوه سو او د هغه په هکله یې کتابونه ولیکل او خلکو ته یې ورزده کړل.

دغه ډله د پیغمبرﷺ له دې فرمودې څخه هم غافله دي:

«من ازداد علماً ولم یزدد هدًی لم یزدد من الله الا بعداً»(۱).

یعني: د چا چې علم زیات سي او د هغه په لارښوونو یې عمل زیات نه سي، نو بېله دې چې له خدایه لیري سي بل څه یې نه زیاتیږي.

---

۱- دغه حدیث دیلمي په مسند الفردوس کي روایت کړی دی او علامه الباني په السلسلة الضعیفة او نورو کتابونو کي جداً ضعیف بللی دی. ژباړن.

د رسولﷺ بل حدیث دی: «أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَالِمٌ لَمْ يَنْفَعْهُ عِلْمُهُ»[١].

ژباړه: د قیامت په ورځ په خلکو کي ډېر سخت عذاب هغه عالم ته ورکول کیږي چي پوهي يې د لوی څښتن په وړاندي ګټه نه وي ور رسولې.

په دې هکله نور احادیث بېخي ډېر دي. لوی څښتن مو دي د دې ډلي له حاله وساتي.

دا هغه ډله مغروران دي چي دد نیا مینه، نفس خوښونه او هوسایی غوښتنه پر زور سوې ده. دوی ګومان کوي چي په آخرت به بېله عمله د دوی علم نجات ورکړي.

2- د عالمانو بله ډله هغه ده چي په ظاهره يې په ترلاسه کړي علم عمل کړی دی او ظاهري ګنهونه يې پرې ایښي دي، خو له خپلو زړونو څخه غافله سوي دي، او هغه بد صفتونه يې چي لوی څښتن ناوړه ګڼلي دي له زړونو نه دي لیري کړي. لکه کبر، ریا، حسد، د چوکۍ غوښتنه، لوړتیا خوښونه، د نژدې وګړو او شریکانو په هکله بده اراده او په هیواد او خلکو کي د شهرت هیله. چي دا هم غرور او تېروتنه ده او لامل يې د رسولﷺ له دې لارښوونو څخه غفلت دی:

«الرِّيَاءُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ»[١].

---

١- دغه حدیث طبراني او بیهقي روایت کړی دی او علامه الباني په السلسلة الضعیفة کي جداً ضعیف بللی دی. ژباړن.

ژباړه: «ریا کوچنی شرک دی».

دغه راز رسولﷺ فرمايي:

«الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ»[۲].

ژباړه: «حسد نېکۍ داسي خوري لکه اور چي لرګي خوري».

دغه راز فرمايي:

«حب المال والشرف ينبتان النفاق في القلب كما ينبت الماء البقل»[۳].

ژباړه: «د شتو او شرف مينه او حب په زړه کي نفاق ته داسي وده ورکوي، لکه اوبه چي وښو ته وده ورکوي».

په دې هکله نور احاديث ببخي ډېر دي.

دغه ډله د لوی څښتن له دې فرمودې څخه هم غافله سوې ده:

﴿إِلَّا مَنْ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾﴾ [الشعراء: 89].

ژباړه: «مګر دا چي څوک د روغ، سپېڅلي زړه سره د لوی څښتن حضور ته ورغلی وي».

په دې توګه دغه ډله له خپلو زړونو څخه غافله سوه او خپل ظاهر ته پام کوي. څرګنده ده چي د چا د زړه ښيښه صفا نه وي عبادتونه يې نه صحيح کيږي. دا د هغه ناروغ غوندي دی چي د بدن د پوست

---

۱- دغه حديث حاکم، طبراني او بيهقي روايت کړی دی او علامه الباني په صحيح الترغيب والترهيب کي صحيح بللی دی. ژباړن.

۲- دغه حديث ابوداود، ابن ماجه او نورو روايت کړی دی او علامه الباني په السلسلة الضعيفة او نورو کتابونو کي ضعيف بللی دی. ژباړن.

۳- په دغو الفاظو کوم حديث تر سترګو نه سو. خو د مال او شرف د حب او ميني په ذم او بد ګڼلوکي صحيح احاديث روايت سوي دي. ژباړن.

په کا (خارښت) اخته وي، درملګر د مالش او درملو خوړلو ورته ويلي وي، خو دی يوازي بدن مالشوي او درمل نه خوري. په دې توګه خو ده په ظاهره ناروغي پټه کړه، خو په باطن کي لا ناروغ دی. په حقيقت کي د ده ناروغۍ له باطنه ريښه اخيستې ده او له دې امله يې ناروغي نوره هم زياتيږي. نو که د ده د ناروغۍ ريښه له باطنه کښل سوې وای د ده ظاهر به د هغې له اغېزو په راحت سوی وای. نوري ناولتياوي هم دغسي دي کله چي د زړه په تل کي ځای ونيسي اغېزي يې د بدن پر غړو ښکاريږي.

3- بله ډله عالمان بيا دي چي د نفس په ځانګړنو پوهېدلي دي او پوهيږي چي دا له شرعي پلوه ناوړه اخلاق دي. خو د ځان خوښوني له امله ګومان کوي چي دوی له ناسمو اخلاقو څخه ليري اوسي او داسي فکر کوي چي د دوی مقام د لوی ښښتن په حضور کي تر هغه لوړ دی چي لوی ښښتن يې په دغسي ټيټو اخلاقو اخته کړي. بلکي په دې ډول اخلاقو يوازي عام وګړي اخته کيږي او دوی چي د علم دې پوړۍ ته رسېدلي دي په دې ټيټتيا نه اخته کيږي، ځکه دغه ډله د خدای په وړاندي هغه مقام ته رسېدلې ده چي د دغسي ټيټو اخلاقو وړ نه دی. په دې توګه پر دوی ناسمو تصوراتو غلبه کړې او کبر، چوکۍ غوښتني، لوړتيا خوښوني، او د شرف او عزت طلب پر هغو زور سوی دی.

د دې ډلي د غرور او تېروتني لامل دادی چي ګومان کوي دا کبر نه دی، بلکي دا د دين عزت دی او د لوی ښښتن د دين د نصرت او د علم د شرف اظهار دی. دوی په دې هکله د ابليس له خوښۍ څخه

غافله سوه او هېر يې کړه چي رسولﷺ ځان ته اسوه او لارښود وګرځوي او وځيږي چي د لوی ښتن استازي څنګه ساده او متواضعانه ژوند کاوه.

دغه راز دغي ډلي د اصحابو﵃ تواضع او د هغو فقر او مسکنت ته پام نه دی اړولی. لکه چي زمونږ په ياد دي حضرت عمر﵁ شام ته په نژدې کېدو سره، له دې امله چي سم کالي يې نه وه اغوستي د ځينو وګړو لخوا تر ايراد لاندي راغی، خو هغه ورته وفرمايل: «مونږ هغه قوم يو چي لوی ښتن په اسلام عزت راکړی دی له دې امله مونږ په بل څه کي عزت نه لټوو».

خو دغه ډله د دين عزت په ډېر بيو کالو کي لټوي او هر يو انګېري چي د دين او علم په عزت او شرف پسې دي. که څه هم چي د خپلو هممهالو او نژدې وګړو په هکله خوله په حسد پرانيزي. يا که يې څوک خبره ونه مني، نو خپل ځان آزاد ګڼي او چي هر څه ووايي د ځان حق يې بولي او دا يې په زړه کي نه ورګرځي چي دا په خپله يو ډول حسد دی چي د خپلو هممهالو او هغو وګړو پر ضد يې په لار اچولی دی چي د ده خبري يې رد کړي دي او وايي چي دا خښم او غوسه د حق لپاره او دا دښمني د باطلو د رد په موخه ده. دغسي کسان هم له مغرورانو څخه دي. ځکه که د ده په مخ کي يو څوک د ده غوندي پر يوه بل عالم بد ووايي دی نه په غوسه کيږي، بلکي ښايي په خوشاله لا سي. که څه هم ممکن د خلکو په مخ کي په ظاهره خپل ځان خښمېدلی وښي، خو پر زړه يې د هغه بدويونکي خبري ښې لګيږي.

دغسي علما كله هم د خپل علم د خپرېدو په لټه كي سي او وايـي چي زما موخه داده چي خلک له پوهي څخه مستفيد كـړم. پـه داسـي حال كي چي په دې خبر كي رياكاره دی. ځكه كه د ده موخه د خلكو اصلاح وای بايد د نورو هغو كسـانو لخـوا يـې هـم د خلكـو اصـلاح خوښه وای چي د ده غوندي دي يا تر ده لوړ دي او ياهم تر ده كښـته دي.

ځيني دغسي علما واكمنو ته هم ورځـي، د دوسـتۍ مـزي ورسـره ټينګوي او په مدح او صفت يې خوله پرانيزي. كه په دې هكلـه ځنـي وپوښتل سي چي د واكمنو سره د ده د اړيكو لامل څه دی؟ وايي لـه دې څخه مي موخه د مسلمانانو نفع او له هغو څخـه د ضـرردفع ده. دغسـي كسـان هـم مغـروره او تېروتلـي دي. ځكـه كـه د ده موخـه او مقصد رشتيا دغه وي چي په خوله يې وايـي نـو چي بـل څـوک د ده غوندي د واكمن سره اړيكي ټينګوي بايد په خوشاله سي. خـو حـال دادی چي دی د واكمـن سـره د خپـل ځـان غونـدي سـړي پـه اړيكـو ټينګولو او د نورو په ښېګڼه غوښتنه په غوسه كيږي.

ډېر ځله كېدای سي چي دغسي عالم د وګړو شته ترلاسـه كـړي او چي په فكر كي يـې ور وګرځـي چي دا خـو حـرام شـته دي، شـيطان ورتـه ووايـي: دا بـې څښـتنه شـته دي چي د مسـلمانانو د ګټو لپـاره ځـانګړي سـوي دي او تـه د مسـلمانانو امـام او عـالم يـې او د ديـن ټينګښت ستا په لاس دی.

دا درې غولوني او حق پټوني دي چي ده ته څرګنديږي: لـومړی دا چي شته څښتن نه لري. دوهم دا چي دا شته د مسلمانانو د مصالحو لپاره دي. دريم دا چي دی د مسلمانانو امام دی. نو آيا څـوک چـي د

انبیاوو، صحابه وو او د امت د فاضلو عالمانو غوندي له دنیا څخه ګوښه ونه اوسي کېدای سي چي امام سي؟

د دې سړي مثال داسي دی لکه عیسیٰ علیه السلام چي فرمایلي دي: بد عمله عالم د چینې په خوله کي د لوېدلي سخر غوندي دی چي نه خپله اوبه چیښي او نه یې کښت او کروندې ته پرېږدي.

د عالمانو د غرور ډولونه خورا ډېر دي او د هغو د فساد عوامل د هغو د اصلاح تر عواملو زیات دي.

4- بله ډله هغه عالمان دي چي علوم یې ترلاسه کړي، د خپل بدن غړي یې سپېڅلي کړي دي، په طاعتونو یې ښایسته کړي دي، له ظاهري ګناهونو ګوښه اوسېدلي دي، خپلو اخلاقو ته یې پام اړولی او خپل زړونه یې له حسد، کبر او کینې او لویي غوښتني پاک کړي دي، د ورانۍ او فساد له دې عواملو څخه د ژغورني لپاره یې هلي ځلي کړي دي، له زړه څخه یې دغه شیان ایستلي او ځان یې له ظاهري فساده آزاد کړی دی. خو د دوی د زړونو په تیارو ګوښو کي لا د شیطان مکرونه پټ پاته دي او په هغو غولېدلي دي خو دوی نه دي په خبر او له منځه یې نه دي وړي.

د دوی مثال د هغه کښت غوندي دی چي بزګر غواړي له وښو څخه یې پاک کړي. هغه واښه ولټوي او له کښته یې ایسته کړي خو د وښو تخمونو ته یې چي په مځکه کي پټ دي پام نه وي او ګومان کوي چي ټوله کرونده له وښو پاکه سوې ده او چي له کروندې غافله سي واښه بېرته له سره تېغونه ووهي، له مځکي راپورته سي او کښت خراب کړي.

دغه ډله که خپل بدلون ته متوجه سي بدلون مومي. دوی زياتره د ځان خوښوني او کبر له مخي د خلکو له ناستي پاستي څخه ډډه کوي او زياتره خلکو ته په سپکه سترګه ګوري. خو په عين حال کي د خپل ظاهر په سمبالولو کي زيات زيار باسي، څو دخلکو په سترګو کي بې اعتباره نه سي.

5- بله ډله هغه عالمان دي چي مهم علوم يې پرې ايښي دي او د معاملاتو او دعوو په هکله يې د فتاواوو په علم اکتفا کړې ده. هغوی د خلکو په منځ کي د ورځنيو مادي معاملو او د ژوندانه د سمون د چارو د تفاصيلو د زده کړي لپاره زيات کوښښ کړی او خپل ځان يې د فقيه په نامه نامتو کړی وي. پر خپل علم يې دفقهي او مذهب د علم نوم ايښی وي. چي کېدای سي د دې سره سره يې د ظاهري او باطني اعمالو علم ضايع کړی وي. د بدن د غړو کړو وړو ته يې پام نه وي اړولی. ژبه يې له غيبته او ګېډه يې له حرامو خوړلو نه وي ساتلې، او د واکمنو حضور ته له تلو څخه ډډه هم نه کوي. دبدن نورو غړو ته يې هم ارزښت نه وي ورکړی او زړونه يې له کبر، ريا، حسد او نورو ډېرو مهلکاتو څخه هم نه وي ساتلي.

دا ډله له دوو پلوو مغروره او تېروتلي وي: يو د عمل له مخي چي د هغه د علاج لار مو په احياء علوم الدين کتاب کي بيان کړې ده. د دوی مثال د هغه ناروغ غوندي دی چي له خاصو درملګرو څخه يې د درملني په هکله زده کړه کړې وي خو درک کړې يې نه وي او عمل نه په کوي. دغه ډله مخ پر پوپناکېدو روانه ده. ځکه چي د خپلو

نفسونو تزکیه یې پرې ایښې ده او د حیض، دیتونو، لعان او ظهار په مسایلو اخته سوي او خپل عمرونه یې په دې لار کي تلف کړي دي.

د دوی د غرور لامل د خلکو لخوا د دوی عزت او درناوی دی. ځکه چي دوی هر یو په ټولنه کي د قاضي او مفتي په توګه رامنځته کیږي. دوی یو پر بل بد رد وايي، خو چي بیا سره یوځای سي دغه خبري نه کوي.

د دغي ډلي د غرور دوهم اړخ د دوی په علم اړه لري. دوی ګومان کوي چي د دوی د پوهي غونډي پوهه نسته او یوازنی علم چي انسان نیکمرغی ته رسوي همدغه د دوی علم دی. په داسي حال کي چي د انسان د ژغورني لامل د لوی ښتن مینه ده او د لوی ښتن مینه د هغه د معرفت له لاري پرته نه سي ترلاسه کېدای او د لوی ښتن معرفت په درو شیانو کي دی: د ذات معرفت، د صفاتو معرفت او د افعالو معرفت.

خو دا ډله د هغه چا غونډي ده چي د حج په لار کي د توښې په خرڅولو بوخت سي او د کعبې شریفي له زیارته پاته سي. دوی دونه نه پوهیږي چي فقه د لوی ښتن په هکله د پوهي ترلاسه کول او د هغهﷻ د بېرونکو او مخنیوونکو صفاتو پېژندل دي. په دې توګه چي په زړه کي د هغه له فرمان څخه د مخالفت له امله بېره مونده سي او د تل لپاره تقوا د ځان ملګرې کړي. لکه چي لوی ښتن فرمایلي دي:

﴿فَلَوۡلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرۡقَةٖ مِّنۡهُمۡ طَآئِفَةٞ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي ٱلدِّينِ﴾ [التوبة: 122].

ژباړه: «ولي له هري ډلي یوه ټولی نه وزي، څو په دین کي د پوهي په ترلاسه کولو پسي ولاړ سي او په دین کي پوه سي».

له دوی څخه ځيني کسان يوازي د فقهي د پوهني په اختلافي مواردو او مسايلو بسنه کوي او د مقابل جانب سره د مجادلې او دليل ويلو او د هغه د چپولو پرته د بل څه زده کول ارزښت نه ورته لري. دوی پر مقابل لوري باندي د غلبې او له دې لاري د وياړ تر لاسه کولو لپاره حق ته شاکوي او شپه او ورځ لګياوي د مذاهبو نيمګړتياوي په ګوته کوي او د خپلو هممهالو عيبونه لټوي. دوی په علم پسي نه ګرځي، بلکي موخه يې يوازي داوي چي څنګه په دغسي مواردو کي مقابل لوري ته ماته ورکړي.

که دغه کسان د خپلو زړونو په تصفيه او تزکيه لګيا سوي وای ډېر به ښه وای. ځکه دوی د دې پر ځای په داسي چارو خپل قېمتي وخت ضايع کړی چي ګټه يې يوازي پر دې دنيا ده او هغه هم تکبر دی چي په آخرت کي د خپل خاوند په سوځونکي اور اوړي. دغو خلکو ته بايد وويل سي چي د مذهب دلايل خو له دغو خبرو پرته د لوی څښتن کتاب او د هغه د سپېڅلي پيغمبرﷺ احاديث دي، نو تاسي فکر وکړئ چي د دغو کسانو غرور او غولېدنه څونه ناوړه ده.

6- له علماوو څخه بله ډله بيا په کلامپوهنه (علم کلام) او د مخالفينو سره په مجادله او د هغو په رد ليکلو او د هغو د تناقضاتو په پلټلو او څرګندولو اخته سوې ده په دې هکله يې ډېري مقولې راغونډې ګړی او د مقابل لوري سره د مناظرې او د هغه د ماتي لاري چاري يې زده کړي دي.

دغه عالمان پر دوو ډلو وېشل کيږي: يوه ډله هم خپله ګمراه سوې ده او هم نور ګمراه کوي، او بله ډله پر حق ده. د ورک لاري ډلي د غرور علت د هغو له ګمراهۍ څخه د هغو غفلت او پر خپلو ځانونو

باندي د اهل نجات ګومان دی. دوی پر بېلو بېلو ډلو وېشل کیږي، چي يوه يې پر بله باندي د کفر حکم کوي او له دې امله ګمراه سوي دي. دوی د دلايلو په شروطو او د هغو د کارولو په سمو لارو چارو نه دي پوهېدلي او له دې امله يې شبهه دليل او دليل شبهه تر سترګو سوې ده. اما د حقي لاري د پلوی ډلي غرور په دې کي دی چي جدل او دلايل ويل يې ډېر مهم کار ګڼلی او هغه يې د خدای د دين په لار کي ډېر غوره ثواب شمېرلی دی. دوی دا سي ګڼلې ده چي څوک څېړنه او پلټنه ونه کړي او لوی څښتن بېله څېړني ګروېږني ومني او يا په دې هکله په فکر کولو کي په آزاده توګه تصميم ونه نيولای سي او دليل راوړي، نو هغه مومن نه دی او که مومن وي ايمان يې نه دی بشپړ او د لوی څښتن په نزد مقرب نه ګڼل کيږي.

دې ډلي د اسلام لومړۍ پېړۍ ته پام نه دی اړولی، او نه دي پوه سوي چي رسولﷺ د اسلام د لومړۍ پېړۍ مسلمانان تر ټولو ښه خلک ګڼلي دي او له هغو څخه يې د لوی څښتن د پېژندني په هکله دليل ونه غوښتی.

ابوامامة الباهليؓ له رسولﷺ څخه روايت کوي چي هغه وفرمايل: «ما ضل قوم قَط إلا أوتوا الجدل»[1].

ژباړه: يو قوم هله له سمي لاري اوښتی دی چي په جدل يې تمسک کړی دی.

---

۱- دغه حديث ابن بطة په الإبانة الكبرى کي په دغو الفاظو او ترمذي، ابن ماجه، احمد او نورو په ورته الفاظو روايت کړی دی او علامه الباني حسن صحيح بللی دی.

7- د عالمانو بله ډله په نصیحت کولو او د هغه چا د لوړ مقام په ښکاره کولو بوخته سوه چي د اخلاقو، د نفس د ځانګړنو او د زړه د صفاتو، لکه خوف او رجاء، صبر، شکر، توکل، زهد، یقین، اخلاص او صدق څخه خبري کوي.

دوی هم له مغرورانو او تېروتلو څخه دي. ځکه دوی ګومان کوي چي له دغو صفتونو څخه خبري وکړي او خلک ورته وبولي، دوی به هم په دغو صفتونو وپسولل سي. په داسي حال کي چي د مسلمانانو د عوامو له ډېرو لږو کسانو پرته، دوی له دې صفاتو څخه ډېر لیري دي. د دې ډلي غرور تر ټولو بد دی. ځکه دوی ځان خوښي دي او دغه ځان خوښونه یې تر خپلي وروستۍ پوړۍ رسولې ده. دوی انګېري چي د میني او محبت د علم په سمندر او د هغه په اوبازي کي یې تبحر ترلاسه کړی او د لوی څښتن په نزد ژغورلي دي، او څنګه چي یې د زاهدانو خبري په یاد کړي دي، که یې څه هم عمل نه دی په کړی د لوی څښتن لخوا بخښل سوي دي. د دې ډلي غرور د نورو مخکي یادو سوو ډلو تر غرور ډېر بد دی. ځکه دوی فکر کوي چي د لوی څښتن او د هغه د رسول په هکله مینه او محبت کوي او په دې لار کي د میني او محبت زښي کري په داسي حال کي چي دوی د اخلاص د باریکیو پر سمه څېړنه نه دي قادر سوي، څو له اخلاص څخه لکه څنګه چي ښایي برخمن سي او نه هم د خپلو نفسونو پټ عیبونه ورته ښکاره سوي دي، څو خپل ځانونه له هغو پاک او سپېڅلي کړي. د دوی وضع د نورو صفاتو او ځانګړنو په هکله هم همدغسي ده.

د دوی دنيا تر نورو ټولو ډېره خوښه ده، خو بيا هم د د نيا په هکله په زهد تظاهر کوي. دغه تظاهر يې هم د دنيا سره د ډېري مينې او محبت له امله دی. دوی خپله مخلص نه دي، خو نور خلک اخلاص ته بولي. خپله له خدايه تښتي، خو نور د خدای لور ته وربولي. خپله له خدايه نه بېرېږي، خو نور خلک له خدايه بېروي. خپله يې خدای هېر کړی، خو نورو ته يې ورپه يادوي. خپله له خدايه ليري سوي دي، خو نور د خدای نژدېکت ته وربولي. بد صفتونه غندي، خو خپله په اخته دي. خپله د خلکو سره ناسته ولاړه تر دې کچې خوښوي، چې که له هغو مجلسونو څخه چې دوی پکښې په ظاهره خلک د خدای لاري ته وربولي منع سي، دا دونه پراخه مځکه به پر تنګه سي او وبه وايي چې دوی يې د خلکو د اصلاح له چاري منع کړي دي. خو د دې سره سره نور خلک ګوښه اوسېدو ته وربولي.

که له دوی څخه د يوه په همقطارانوکي څوک پيدا سي چې خلک ورته مخه کړي او د خلکو د اصلاح لامل سي دی به له وير او حسد څخه د مرګ تر پولي ورسيږي، او که يو څوک د هغه د همطقاره صفت وکړي هغه به د ده په نظر تر ټولو بد سړی سي اوتل به يې په زړه کي بغض ساتي.

دا ډله په ستر غرور اخته ده او له پوهي او خبرېدو څخه ډېره ليري پاته سوې ده، چې د سمون لاري ته له بېرته ګرځيدو څخه يې زيات واټن نيولی دی.

8- د عالمانو بلي ډلي بيا د وعظ او نصيحت له درانه مسؤوليته سر غړولی دی. دوی د دې زمانې هغه واعظان دي چې بېله

څو تنو خدای ساتلو په عمومي توګه د وعظ او لارښوونې له اصولو ګوښه سوي دي. دغه ډله په چټياتو ويلو او د شريعت خلاف خبرو په تلقينولو بوخته وي او له دې خبرو څخه يې موخه داده چې د عجيبو او نادرو خبرو په ويلو سره شهرت ترلاسه کړي.

له دوی څخه يوه ډله بيا باريکي نکتې برابروي او مسجع الفاظ سره اوډي. دغه راز د وصال او فراق اشعار وايي او په دې ډول په خپلو مجلسونو کې، که څه هم د فاسدو موخو لپاره وي شور او زوږ رامنځته کوي. دغه ډله انسي شيطانان دي چې هم خپله ګمراه سوي او هم نور ګمراه کوي. مخکنيو ډلو که څه هم خپل ځانونه نه اصلاح کول، د خلکو د اصلاح په لټه کې خو وه او خبرې يې سمې وې، خو د غه ډله خلک د خدای له لارې اړوي، د لوی ښتن په هکله يې غرور ته وربولي او ناسمو اغراضو ته يې دعوتوي. د خپلو حرفوي او جوړوکړو الفاظو په مټ خلک ګنهونو او د هغو د ترسره کولو په هکله زړه ورکوي او مادي ارزښتونو ته د هغو مينه زياتوي. په تېره چې واعظ ځان په ښکلو جامو هم ښايسته کړی وي او د تکبر او ريا حالت پکښې موجود وي. نو خلک د لوی ښتن له رحمته نهيلۍ ته ور بولي، څو بالاخره په بشپړه توګه د لوی ښتن له رحمت څخه هيله وشلوي.

9- د عالمانو بله ډله هغه کسان دي چې د دنيا په بدي کې يې د زاهدانو په ويناوو قناعت کړی او دا خبرې په هماغه ډول چې يادې کړې يې دي، بېله دې چې په معناوو او مفاهيمو يې پوه سي، تکراروي. يو به دغه خبرې پر منبر کوي، بل به يې په

کوڅه او بازار کي کوي او هر يو به فکر کوي چي د لوی ښتن له لوري ژغورل سوی دی او د زاهدانو د ويناوو په يادولو، بېله عمله د لوی ښتن لخوا بخښل سوی دی. دغه ډله تر هماغو مخکنيو ډلو زياته غولېدلې ده.

10- د عالمانو بله ډله بيا خپل وخت د حديثو د علم په بوختېدو تېروي، يعني د احاديثو په اورېدو، د زياتو روايتونو په راټولولو او د غريبو احاديثو د سندونو په پلټلو لګياوي. لکه چي له دوی څخه يو په بېلو بېلو سيمواو ښارونو ګرځي او له بېلو بېلو شيوخو او استادانو څخه احاديث روايتوي، څو ووايي چي زه له پلاني څخه روايت کوم او د پلاني سره مي ملاقات وکړ او زه داسي اسناد لرم چي نور يې هيڅ نه لري. د دې ډلي غرور له څو اړخو څخه دی:

يو دا چي دوی د تورات داسفارو وړونکي غوندي دي.ځکه دوی د سنتو په پوهېدو نه لګيا کيږي، بلکي د هغو په لېږدولو لګيا دي او فکر کوي چي دا ورته بس دي. خو داسي هيڅکله نه ده، بلکي له حديث څخه موخه د هغه په معنا او مفهوم پوهېدل دي. نو لومړی بايد حديث واورېدل سي، بيا بايد حفظ سي او بيا يې معنا ته فکر وسي او بيا عمل په وسي او بالاخره خپور سي.

په داسي حال کي چي دې ډلي يوازي د احاديثو په اورېدو بسنه کړې ده او د هغو په هکله يې نور پړاوونه پرې ايښي دي. چي په دې ډول احاديث زده کول کومه ګټه نه کوي.

اوس کوچنيان هم احاديث وايي، خو هغوی يې له مفهوم او ګټو څخه بې خبره دي.کوم استاد چي نن مهال نوو ځوانانو ته احاديث

لولي ډېر داسي کيږي چي له هغو ناخبره وي، تر دې چي په حديث کي بدلون راځي او دی نه وي په خبر. داسي هم سوي دي چي استاد بيده وي او له هغه څخه حديث روايت کيږي او هغه نه وي په خبر. چي دا ټول غرور او غولېدنه ده. د احاديثو په اورېدو کي اصل دادی چي راوي به حديث له رسول اللهﷺ څخه اورېدلی وي او څنګه چي يې اورېدلی وي هماغسي يې بايد حفظ کړي او بيا يې بل ته ورسوي. په دې توګه روايت د حفظ له مخي دی او حفظ د اورېدو له مخي دی. که روايت کوونکی له رسولﷺ څخه د حديث په روايت کولو کي عاجز وي بايد حديث له صحابه وو يا تابعينو څخه واوري. ځکه له هغو څخه اورېدل کټ مټ له رسواللهﷺ څخه د اورېدو غوندي دي. په دې توګه پر هغه لازمه ده چي د حديث په يادولو کي ډېر کوښښ وکړي او لکه څنګه چي يې ياد کړی دی هماغسي يې روايت کړي، په داسي ډول چي ان په يوه توري کي يې شک پيدا نه سي. که د حديث په نقل يا د هغه په يوه توري کي شک پيدا سي د هغه نقلول يا نورو ته ور زده کول روا نه دي. ځکه په دې صورت کي به نور هم چي دغه حديث يې ترلاسه کړی دی هم دغه اشتباه تکرار کړي.

د احاديثو حفظ له دوو لارو کيږي: يو د زړه له لاري دی، چي تل هغه په ياد ولري. دوهم چي هر څه اوري هغه وليکي او ليکلی حديث چي بايد درست يې ليکلی وي، داسي حفظ کړي چي د نورو د لاس وهني څخه خوندي سي، او د حفظ ډېره ښه لار د حديث ليکل او په يوه ډېر خوندي ځای کي د هغه ساتل دي.

له کوچني، غافل او خوب وړي انسان څخه د حدیث لیکل روا نه دي. دغه راز د احادیثو اورېدل زیات شروط لري، بلکي له هغه څخه موخه د هغه پېژندنه او په هغه عمل دی. البته احادیث هم د قرآن کریم غوندي د زیاتو مفاهیمو درلودونکي دي.

له ابو سفیان بن ابي الخیر المنهي څخه روایت دی چي هغه د زاهر بن احمد السرخسي مجلس ته ورغی. نو لومړی حدیث چي هغه روایت کړ د رسول اللهﷺ دا قول وو:

«مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ»[۱].

ژباړه: د سړي د اسلام ښه والی دادی چي هغه څه چي پاملرنه نه ورته لري پرېږدي). تر دې وروسته له مجلسه ولاړ سو او وې ویل دا ماته تر هغو چي له هغه فارغېږم او نور اورم کفایت کوي. دخلکو د احادیثو اورېدل په دغسي ډول وه.

11- د عالمانو بله ډله د نحوي، ژبي او شعر په علومو او د نادرو لغاتو په زده کړه بوخت سوي او په دې چارو مغروره سوي دي. دوی هم داسي فکر کوي چي څنګه چي د امت له عالمانو څخه دي نو ګنهونه یې بخښل سوي دي. ځکه چي د دین او سنتو تېنګښت د نحوي اوژبي په وسیله دی. له دې امله دوی عمرونه په دې لار کي خاوري کړل.

خو دا یو ستر غرور دی، که دوی عاقلان وای پوهېدل به چي عربي ژبه د ترکي ژبي غوندي ده او څوک چي خپل عمر د عربي

---

۱- دغه حدیث موطاء مالک، ترمذي، احمد، ابن ماجه او نورو روایت کړی دی. او علامه الباني په صحیح و ضعیف سنن الترمذي او نورو کي صحیح بللی دی.

ژبي د زده کړي په لار کي لګوي داسي دی لکه د ترکي، هندي یا بلي ژبي د زده کړي په لار کي چي یې لګوي، یوازي توپیر دادی چي زموږ سپېڅلی شریعت د عربو په ژبه راغلی دی، او د نحوي او ژبي زده کړه په قرآن کریم او سنتو باندي او په هغو چي په دې دوو سرچینو اړه لري د پوهېدو تر بریده کفایت کوي، خو په هغو کي تر نامحدودي کچي تعمق تر اړتیا زیات کار دی او په دې چارو دغونه بوخت کس غولېدلی باله سي.

## دوهم صنف: له مغرورانو څخه د عبادتونو او ښو اعمالو ترسره کوونکي دي

**د دې صنف مغرورین پر ډېرو ډلو وېشل سوي دي**

۱- د دغه ټولګي اړوند کسان ځیني په لمانځه مغروره وي، ځیني د قرآن کریم په تلاوت، ځیني په حج، ځیني په جهاد، ځیني په زهد. دغه راز په دې ټولګي کي داسي ډله هم سته چي د فرضو په اداکولو کي سستي کوي، خو پر نفلو یې زیات زور وي. چي د ځینو کار په دې هکله د افراط تر پولي رسیږي او تر حد تېری کوي. دوی د هغه چا غوندي دي چي د اوداسه په تازه کولو کي وسوسه پرغالبه سوې وي او په هغه کي مبالغه کوي او فکر کوي کومي اوبه چي ورسره دي له شرعي پلوه د ده پاکي نه په کیږي او د ځان لپاره له واقعیته لیري احتمالات په پام کي نیسي او هرڅونه چي له اوبو کار اخلي بیا هم فکر کوي چي چټلیو ته نژدې دی.

که دغه سړي ته حرام ورسیږي ښايي حرامو ته نـژدې، لـه حرامـو لیري وګڼي او ښايي چي زيات وختونه به خـالص حـرام خـوري. نـو که دغه احتیاط د اوداسه د اوبو پرځای په خـوړو کـي وکـړي ډېـر بـه ښه وي. ځکه د اصحاب کرامو سیرت او کړه وړه دغسي وه.

حضرت عمرﷺ د یوه نصراني په لوښي کي چي د نجاست د ظهور احتمال پکښې وو، اودس تازه کړ، خو هغه د دې سره سره په ځینو مواردو کي د حلالو له ګټي اخیستني څخه ډېره کول، او دا کارېې په حرامو کي د واقع کېدو له بېري کاوه.

۲- بله ډله هغه ده چي د لمانځه په نیت کي وسوسه پر غالبه وي. شیطان دوی نه پرېږدي چي سم نیت وتـړي، بلکـي وسوسـه وراچوي څو جماعت ځني فوت سي. ډېر بیا داسي هم کیـږي چي بېخي لمونځ ځني قضا سي. دغسي کسـان کـه څـه هـم د تحریمې تکبیر سم تر سره کړي، خو په زړه کي یې د نیـت پـه صحت کي شک وي. کله په تکبیر کي وسوسه ورولوېږي چي ان له ډېره احتیاطه د تکبیر صـفت بـدلون ومـومي او د امـام د فاتحې اورېدل ځني فوت سي. دا د دوی د لمانځـه پیـل وي. بیا په ټول لمانځـه کـي غفلـت کـوي. او پـه لمانځـه کـي د زړه حضور هیڅ په پام کي نه نیسي. په دې ډول مغروره سوي وي چي په ټـول لمانځـه کـي یـې ډېـر احتیـاط کـړی دی او نـه وي پوهېدلي چي پـه لمانځـه کـي د زړه حضـور واجـب دی. دوی ابلیس غولولي دي او داکار یې ورته ښکلی ایسـولی دی. دوی ته یې داسـي برېښـولې چـي د دې احتیـاط کـول تاسـي ترټولـو خلکو ممتازه کـوي او د لـوی څښـتن پـه نـزد د ډېـر ښـه مقـام

خاوندان کېږئ.

۳- بله ډله بیا داسي ده چي داسي وسوسې غلبه پر کړې وي چي د الحمد لله او د نورو اذکارو د حروفو د مخارجو په ادا کولو کي زیات احتیاط کوي. دوی د حروفو په ادا کولو کي له زیاته شدته کار اخلي او د (ضاد) او (ظآء) د تورو د توپیر لپاره ډېر حساس وي، خو له دې پرته نور څه ارزښت نه ورته لري. د الحمد لله اسرارو ته هیڅ پام نه اړوي او معناوو ته یې توجه نه کوي. دوی نه پوهیږي چي خلک په دونه شدت او په خبرو کولو کي د دوی د عادت ترپولي هاخواد قرآن په تلاوت او د هغه د تورو د مخارجو په ادا کولو مکلف نه دي.

دا هم لوی غرور دی. د دوی مثال د هغه سړي دی چي د یوه واکمن مجلس ته یو پیغام یوسي او امر ورته سوی وي چي هغه واکمن ته په درست ډول ورسوي. خو هغه سړی د پیغام د حروفو د مخارجو په ادا کولو کي کوښښ وکړي او هره جمله په پلاوو پلاوو تکرار کړي، خو د پیغام موخي او مقصد ته یې پام نه وي او د مجلس درناوی یې هېر کړی وي. نو شک نسته چي داسي څوک هرورمرو د واکمن لخوا ترټل کیږي، بېعقل بلل کیږي او لېونتون ته یې استوي.

۴- بله ډله د قرآن کریم په تلاوت مغروره کیږي، خو له هغه څخه کومه ګټه نه ترلاسه کوي. دوی که څه هم په یوه شواروز کي قرآن ختموي او ژبي یې په تلاوت لګیاوي خو زړونه یې په مادي نړۍ کي په سیل بوخت وي. د قرآن معناوو ته پام نه اړوي، څو د هغه د انزجار له مواردو څخه وېرېږي، له

نصيحتونو څخه يې پند واخلي، اوامرو او نواهيو ته يې غاړه کښېږدي، د قرآن له ژورو معناګانو څخه خوند واخلي او د نظم له اعجاز څخه يې ګټه اوچته کړي.

که څوک د لوی څښتن سپېڅلی کتاب په شواروز کي سل واره هم ولولي، خو چي اوامرو او نواهيو ته يې پام ونه ګرځوي او عمل په ونه کړي، نو دغسي څوک د عذاب مستحق دی.

لوستونکی به ښکلی آواز ولري او چي قرآن ووايي له خپله آوازه به خوند واخلي او په دې توګه به مغروره سي او ګومان به وکړي چي لوی څښتن ته يې مناجات کړی دی او د هغه کلام يې اورېدلی دی، خو افسوس چي دغسي څوک له حق څخه ډېر ليري دی. که ده ته د لوی څښتن کلام خوند ورکړی وای، خپل ښکلي آواز ته به هيڅ نه متوجه کېدلای او زړه به يې په هغه نه تړلای. جوته ده چي د خبرو خوند بېله معنا په بل څه کي نه وي. نو دغه څوک په رشتيا سره په ستر غرورو اخته سوی دی.

٥- بله ډله په روژه نيولو مغروره سوې ده. ډېر کسان دي چي تل روژې نيسي، خو خپلي ژبي له غيبته نه راګرځوي او ځانونه له ريا نه ساتي، روژې هم په حرامو ماتوي، زياتي خبري هم کوي او چټيات هم وايي. دې ډلي واجب پرې ايښي او مستحبو او مندوباتو ته يې مخه کړې ده او په دې ډول ګومان کوي چي د مسلمان په توګه لوی څښتن ته تسليم سوی دی.

خو داسي هيڅکله نه ده. مسلمان او خدای ته تسليم سوی هغه دی چي د لوی څښتن حضور ته په پاک او سليم زړه حاضر سي. دا ډله ډېره سخته غولېدلې او مغروره سوې ده.

۶- بله ډله په حج مغروره سوې ده. دوی بېله دې چي د نورو حقوق او پورونه بېرته ورکړي. يا د مور او پلار رضائيت ترلاسه کړي يا د لاري توښه له حلالو په لاس راوړي حج ته ځي. داسي هم ډېر کيږي چي د حج په لار کي فرض لمونځونه قضا کړي. يا ځان او کالي پاک نه سي ساتلای ياد حج په لار کي له نورو څخه په زور ججې او ماليې اخلي او په لار کي له بد ويلو او جنګ جګړو ډډه نه کوي. ځينو بيا حرام شته ترلاسه کړي وي او په لار کي يې په ملګرو خوري او په دې توګه ريا کوي. دغسي کسان لومړی د حرامو په ترلاسه کولو سره د لوی څښتن په معصيت اخته کيږي او بيا يې په لګولو کي ريا کوي بيا کعبې شريفي ته په داسي حال کي حاضريږي چي زړه يې په رزيله اخلاقو او ذميمه صفاتو ککړ وي او له دې سره سره دی ګومان کوي چي پر سمه لار روان دی او د لوی څښتن په نزد لوړ مقام لري، خو دی تېروتلی او مغروره سوی دی.

۷- بله ډله بيا د خلکو د ښېرولو لار اخلي او خلکوته په ښو امر کوي او له بدو يې منع کوي. يو به وينې چي پر خلکو نيوکي کوي او د ښو په ترسره کولو يې امر کوي، خو خپل ځان يې هېر کړی وي په دې توګه په خپل کار کي سختي کوي او د واک او عزت په لټه کي وي. که خلک له ده څخه ناسم کار ووينې او نيوکه پر وکړي په غوسه کيږي او وايي: زه محتسب يم، ته څنګه پر ما ايراد نيسې. کله خلک مسجد ته تېل وهي او که څوک مسجد ته په تللو کي ځنډ وکړي سختي خبري

ورته کوي. زيات وختونه پرده باندي ريا، ځان ښکاره کولو، او واک غلبه کړې وي. نخښه يې داده چي که د ده پر ځای بل څوک خلک مسجد ته ورغونډ کړي پر هغه پڅکې کوي. ځيني اذان کوي او په دې فکر وي چي دغه اذان يې د خدای لپاره دی، خو که له ده پرته بل څوک راسي او د ده په غياب کي اذان وکړي پر ده قيامت کيږي او وايي دا خو زما حق وو او تا زما په حق کي مداخله کړې ده. ځيني خپل ځانونه د يوه مسجد په امامت مقيد کوي او داسي ګڼي چي ترنورو غوره دی. د ده هدف دادی چي ده ته د مسجد امام يا خطيب يا داسي بل څه وويل سي.

نخښه يې داده چي که له ده پرته بل څوک امامت ورکړي، که څه هم تر ده پرهېزګاره او پوه وي خو د ده نه خوښيږي.

٨- بله ډله چي په مکه مکرمه او مدينه منوره کي مجاورين سوي وي، په همدې مجاورت مغروره سوي وي. دوی خپل زړونه او ظاهر او باطن نه وي پاک کړي. د ډېرو زړونه د دوی په وطنونو او کورونو پسي کښانده وي. ته به په دې هکله ډېري خبري ځني واورې او وايي به چي دا څو کاله کيږي چي په مکه مکرمه کي اوسم. دوی ته داښه وه چي په خپل وطن کي اوسېدلای او زړونه يې په کعبه مشغول وای او که يې د کعبې ګاونډيتوب هم غوره کړی وای نو د هغې حق يې ښه ادا کړی وای. که مکې ته د خدای لپاره راغلي دي نو بايد د خدای حق مراعات کړي او که په مدينه کي مجاور سوي دي نو بايد د خدای د رسول ﷺ حق ښه رعايت کړي.

خو دا حقوق څوک ښه رعايت کولای سي؟ دوی په ظواهرو غولېدلي دي او ګومان کوي چي دېوالونه به يې وژغوري. خو داسي هيڅ نه ده. په دوی کي داسي وګړي هم پيدا کيږي چي ان يوه ګوله ډوډۍ فقير ته نه ورکوي. تاسي فکر وکړئ چي د مخلوق د ګاونډيتوب د حق رعايت څونه مشکل دی، نو د خالق د ګاونډيتوب د حق رعايت او د زړه او د بدن د غړو ساتنه به څونه ستونزمن کاروی؟

٩- بله ډله په شتو کي د زهد لار غوره کوي. دوی د خوړو او کالو په لږ څه قناعت کوي او د کور پر ځای په مسجد بسنه کوي او ګومان کوي چي د زاهدانو مقام يې ترلاسه کړی دی، خو په دې حال کي هم د واک او دبدبې شوقيان دي.

واک په دغو شيانو په لاس راځي: يا د علم په وسيله ترلاسه کيږي يا د وعظ او يا د زهد له لاري ترلاسه کيږي. هغو ډېره آسانه لار پرې ايښې او په ډېرو سترو مهلکاتو لګيا سوي دي. ځکه چي جاه پالنه تر مال پالنه ډېره بده ده. نوکه دوی د جاه طلبۍ پرځای مال طلبي غوره کړې وای سلامتيا ته به ډېر نژدې وای. دا مغروره او غولېدلي کسان دي خو ګومان کوي چي د دنيا له زاهدانو څخه دي. دوی د دنيا په معنا په رشتينې توګه نه دي پوهېدلي. ځکه ډېر داسي کيږي چي دوی تر نيستمنو شتمن غوره ګڼي.

ځيني په خپل علم مغروره وي او ځيني خلوت او ګوښه اوسېدل غوره کوي، خو شروط يې په پام کي نه نيسي. ځينو ته چي شته وړاندي سي له دې ببري يې نه اخلي چي نه چي ونه ويل سي چي

زهد يې له منځه ولاړ. په داسي حال کي چي د شتو د ترلاسه کولو سره مينه لري، خو د خلکو د بد ويلو له بېري يې نه اخلي.

ځيني پر خپلو ځانونو سختي راولي. ان په شواروز کي زر رکعته لمونځ کوي او قرآن کريم ختموي، خو په دې چارو کي د زړه د حضور مراعاتولو ته ارزښت نه ورکوي او له ريا، کبر، ځان خوښوني او داسي نورو مهلکاتو څخه د هغه پاکولو ته پام نه اړوي.

ډېرى فکر کوي چي ظاهري عبادات د دوي د نېکيو تله درنوي، خو داسي هيڅکله نه ده. د بدن په غړو د عمل ترغرونو د تقوا يوه ذره او يو غوره خصلت ډېر ښه دى. کله ناکله له دوى څخه يو څوک په دې مغروره کيږي چي څوک ورته ووايي چي تاسي له اوتادو يا د خداى له اولياوو او دوستانو څخه ياست. دوى په دې خبرو خوشاليږي او هغه د خپل ځان د تزکيې څرګندېده بولي. که څوک يوه ورځ څه بد ورته ووايي کافر يې ګڼي او جنګ ورسره کوي او ښايي دا هم ورته و وايي چي تا لوى څښتن هيڅکله نه بخښي.

١٠- بله ډله پر نفلو ډېر حريص وي او فرايضو ته دونه چمتو والى نه ښيي. له دوى څخه به يو وينې چي په ځاښتي، تهجد او داسي نورو لمونځونو به خوشاله وي او د فرض لمانځه پر ادا کولو به خوند نه اخلي او نه به په لومړي وخت کي د هغه د ادا کولو په حرص کي څه خير ويني او د حضرت رسول کريمﷺ دا وينا يې هېره کړې وي:

«ما تقرب المتقربون بأفضل من أداء ما افترضه الله عليهم»[١].

ژباړه: «لوی څښتن ته نژدېکت غوښتونکي تر هغو چي خدای فرض کړي دي، په بل ښه شي نژدېکت نه سي موندلای».

د ښو چارو په ترسره کولو کي د ترتیب پرېښوول ښه کار نه دی، بلکي د شرورو له جملې څخه بلل کیږي. کله هم انسان ته دوه فرضه یوځای تاکل کیږي. چي یو فوتیږي او د بل د فوت امکان نه وي. یا کله د دوو نفلي کارونو تر سره کېده ورته وړاندي سي چي د یوه وخت تنګ وي او د بل د ترسره کېدو وخت زیات وي، نو که څوک ترتیب نه مراعاتوي هرومرو به مغروره وي او د دې بېلګي تر شمېر زیاتي دي، ځکه چي معصیت څرګند دی او څه چي ناڅرګند دي هغه د ځینو طاعتونو د تقدیم اهمیت پر ځینو نورو دی، لکه د ټولو فرایضو مخکیوالی پر نوافلو باندي او د عیني فرایضو مخکیوالی پر کفایي فرضو باندي. چي که بل څوک هغه ترسره کړي، ترسره کېدو ته یې اړتیا نه لیدل کیږي. دغه راز د مهمو فرض عینو مخکیوالی پر ځینو هغو فرض عینو باندي چي تر هغو په کښته کچه کي وي، او د هغو مخکیوالی چي فوتیږي. لکه د مور د حق مخکیوالی د پلار پر حق او د پلار او مور د نفقې مخکیوالی پر حج باندي.

البته هغه بنده به څونه ستر وي چي دا چاري سمي ترسره کړي او ورته متوجه سي، خو د دقیق ترتیب په اجرا کي یې غرور پټ دی

١- د دغه حدیث مفهوم بالکل درست دی، خو په دغو الفاظو کوم حدیث تر سترګو نه سو.

چي پر ځرګندېدو يې په علم كي له راسخو عالمانو پرته بل څوك نه دی قادر.

## دريم صنف: له مغرورانو څخه پانګوال دي

پانګوال پر بېلو بېلو ډلو وېشلي دي:

1- يوه ډله جوماتونه، مدرسې، كاروانسرايونه، د اوبو سبيلونه او داسي نوري ودانۍ جوړوي چي د خلكو د اړتياوړ او د عامه ګټې اخيستني لپاره ګټمل كيږي. بيا پر ډبرو او نورو خپل نومونه ليكي، څو دهغو ياد تل ترتله پر پاته سي او ترمړيني وروسته يې آثار باقي وي. هغوی په دې توګه ګومان كوي چي د لوی څښتن د بخښني مستحق دي، خو هغوی له دوو جهتو مغروره دي: لومړی دا چي كومي پيسې د يادو سوو ودانيو په جوړولو كي لګوي د ظلم، شبهو، بډو او د اشغالګرو د چوكيو او مقامونو له لاري يې په لاس راوړي دي، هغو له دې امله پر ځانونو باندي د لوی څښتن خښم راپارولی دی او څنګه چي يې د دغو پيسو په پيدا كولو كي د لوی څښتن نافرماني كړې ده، نو پر دوی واجبه داده چي توبه وكاږي او دغه پيسې د هغو خاوندانو ته وركړي، خو كه مړه وي د هغو وارثانو ته يې وسپاري او كه ورثه ونه لري بايد دغه شته د ټولني پر ډېرو مهمو مصالحو ولګوي، چي كېدای سي دغه ډېر مهم مصالح پر بې وزلو د هغو وېشل وي. نو په داسي ودانۍ كي چي اړتيا نه وي ورته او ودانوونكی يې ځي او هغه پرېږدي څه ګټه ده؟

خبره داده چي پر دې ډلي ريا، شهرت خوښوني او د يادګار پرېښوولو خوند غلبه کړې ده.

دوهم دا چي هغوی فکر کوي په دې ډول کارونو يې خپل اخلاص ننداري ته وړاندي کړی دی او په دغسي سترو ودانيو کي د پيسو له لګولو څخه يې موخه خير ښېګڼه ده. خو که له هغو څخه يو مکلف سي چي يو څو افغانۍ يوه بې وزلي ته ورکړي نه يې خوښيږي، ځکه چي د ده په باطن کي د ستايني او صفت ميني ځای نيولی دی.

2- بلي ډلي بيا حلال شته ترلاسه کړي وي او له حرامو ليري اوسي او هغه يې د جوماتونو پر ودانولو لګولي وي، خو دوی هم له دوو جهتو مغروره دي:

لومړی د ريا، او د حلکو د ستاينو له امله. ځکه ډېر کېدای سي چي د هغه په څنګ کي يا يې په ښار کي داسي بې وزلي وي چي هغو ته د دغو پيسو ورکړه پر مسجدونو باندي تر لګولو زيات ارزښت ولري. ځکه جوماتونه خو ډېر دي او د هغو له ودانولو څخه موخه يوازي د مسلمانانو اجتماع ده او بله موخه په هغو کي نسته او لازمه نه ده چي په هر کنج او کوڅه کي مسجد جوړ سي او بې وزلي او فقيران وږي او اړ پاته وي.

کوم شی چي لامل سوی چي د مسجد په جوړولو کي په آسانۍ سره پيسې ورکړي دادی چي دا کار خلکو ته ښکاري او د خلکو د ستاينو او تعريفونو لامل کيږي، خو د دې سره هغه ګومان کوي چي دا کار يې د خدای لپاره دی. په داسي حال کي چي دا له خدای پرته د خلکو د ستاينو لپاره دی او دی په زړه کي په دې خبره ښه پوهيږي.

دوهم دا چي پيسې د مسجد په منع کړی سوو نخشونو او تزئينونو لګوي کوم چي د لمونځ کوونکو زړونه په بوختيږي او د هغو په ليدو سره په لمانځه کي خشوع له لاسه ورکوي او د زړه حضور چي د لمانځه موخه ده له منځه ځي. نو هر څه چي لمونځ کوونکو ته وريپښيږي يا له لمانځه دباندي په مشغوليږي، د دغو نخشونو له امله دي. د مسجد تزئين په هيڅ ګون جواز نه لري.

حضرت حسينرضي الله عنه فرمايلي دي: کله چي د لوی څښتن پيغمبرﷺ وغوښتل چي په مدينه منوره کي مسجد ودان کړي، جبرايلعليه السلام ورغی او ورته ويې ويل چي هغه اووه ګزه لوړ جوړ کړه او نخشونه او تزئين مه ورکوه.

په دې توګه دغه ډله منکر (بد او ناوړه) کار معروف ګڼي او په مغروره دي.

3- بله ډله خپل شته بې وزلو او مسکينانو ته په خيرات کي ورکوي، خو هغه د خلکو د راغونډېدو په مراکزو او محافلو کي وېشي. د بې وزلو له عاداتو څخه يو هم د نېکۍ څرګندونه او د هغې له امله مننه ده. ځکه نو د شتمنو له پټې ورکړي څخه ښه نه راځي او که کوم بې وزلی هغه څه چي له دوی څخه يې د صدقې په نامه اخلي پټ کړي دا د هغه لخوا د ځان په هکله يو ډول خيانت او د نعمت کفران ګڼي. کېدای سي ډېر داسي وي چي د شتمن ګاونډي وږي وي او دی د هغو مرستي او کومک ته هيڅ ور ونه دانګي. ابن عباسرضي الله عنهما فرمايلي دي:

«په آخره زمانه کي حاجيان بېله سببه زياتيږي، سفر يې زړه راکښونکی ښکاري او روزي او نعمت پر ډېريږي، خو چي د حج له سفره بيرته راګرځي د ګناه پېټی به يې په شا وي او په لوټمارانو به اوښتي وي اوښ (د سفر وسيله) به يې پر صحراوو ګرځي، ګاونډی به يې د ده ترڅنګ په ستونزو اخته وي، خو دی به چورت نه پکښي وهي او څه مرسته به نه ورسره کوي».

4- د پانګوالو بله ډله د شتو په ساتنه بوخت وي او په ښندنه کي يې بخل کوي او يوازي په هغه بدني عبادت لګيا وي چي د شتو ښندني ته اړتيا نه لري. لکه روژه، د شپې تهجد او د قرآن کريم ختم. دا ډله ځکه مغروره ده چي پوپنا کوونکی بخل يې پر باطن باندي مسلط سوی دی. هغوی داسي پاڅوني ته اړتيا لري چي دغه پيسې راوباسي، خو هغوی د داسي فضايلو په لټه کي دي چي دغو پاڅونو ته يې نه فکر کيږي.

د دوی مثال د هغه چا دی چي په کالو يې مار ننوتلی وي او هغه يې د مرګ تر پولي رسولی وي، خو په دې حال کي دی د خپلي صفراد تسکين لپاره د سکنجبينو په لټه کي وي. نو تاسي فکر وکړئ څوک چي مار خوړلی وي هغه سکنجبينو ته څه اړتيا لري؟

بشر حافيؒ ته وويل سول: پلانی ډېر لمونځونه کوي او ډېري روژې نيسي. هغه وويل: دې خوارکي خپل ځان پرې ايښی او په نورو اخته دی. هغه بايد وږو ته خواړه ورکړي او بې وزلي عذر کړي، نه دا چي شته يې ټول کړي وي او له فقيرانو يې سپمولي وي او خپل ځان وږی کړي او نفلي لمونځونه وکړي.

5- د پانګوالو پر بله ډله بیا بخل دونه غلبه کړې وي چي له خپلې پانګې څخه بېله زکاته بل څه نه ورکوي او زکات هم لـه هغـو شتو څخه ورکـوي چـي خـراب سـوي وي او نـاټ يـې نـه پـر کښېني. په بې وزلو کي هم د زکات ورکولو لپاره د هغه چا په لټه کي وي چي چـوپړ يـې وهـي يـا يـې ځيني اړتيـاوي ليـري کـوي. يـا پـه داسـي چـا پسـي ګرځـي چـي وروسـته هغـه تـه د مزدورۍ هيله ولري. لنډه دا چي زکات داسي چا تـه ورکـوي چي يو څه ورپوري ويني. يا زکات داسي سړي ته ورکوي چي د يوه معتبر سړي لخوا ورتـه پـه ګوتـه سـوی وي، څـو د هغـه معتبر لخوا کوم مقام ورکړه سي.

دا ټولي چاري د نيت خرابوونکي او د عمل حبطه کـوونکي دي او تر سره کوونکی يې مغرور باله سي. خو فکر کوي چي د لوی څښتن امر يې پر ځای کړی دی. په داسي حال کي چي دی فـاجر دی، ځکـه چي د لوی څښتن په عبادت کي له لوی څښتنه پرته بل غـرض لټـوي او په دې توګه هغوی او د هغو امثال په خپله پانګه غولېدلي دي.

6- بله ډله بيا د عوامو، پانګوالو او بې وزلو ده چي د ذکر غونـډو ته په ورتلو غره سوي دي او داسي عقيده لـري چـي دغـه کـار هغوی د نورو کارونو له ترسره کولو څخه خلاصوي او دا کار ورتـه بـس دی. هغـوی دا کـار د يـوه عـادت پـه توګـه کـوي او ګومان کوي چي د وعظ مازي اورېده ثواب لري، بېله دې چي عمل په وکړي يا له وعظ او نصيحته پند واخلي.

دغه ډله هم مغروره ده. ځکه د ذکر د مجالسو فضايل هله ترلاسه کيږي چي دسړي سره د خير ښېګڼي مينه پيـدا کـړي، خـو کـه يـې د

نېکيو سره علاقه ټينګه نه کړي په داسي مجالسو کي هيڅ خير نسته. د خير کار ته هڅونه ښه باله سي، ځکه چي انسان عمل ته وربولي، خو که د انسان سره د عمل مينه او هڅه مونده نه کړي په داسي مجالسو کي هم خير نسته. ډېر کېداى سي چي سړى د وعظ د اورېدو له امله مغرور سي او ډېر کېداى سي چي سړي ته د زړه د نري کېدو له پلوه د ښځو غوندي يو حالت ورپېښ کړي او ويې ژړوي. دغه راز ډېر کېداى سي چي د بېروونکي خبري په اورېدو سره يې رنګ ژړ سي اوناوړه الفاظ يې تر خوله ووزي او فکر وکړي ټولي ښېګڼي يې تر لاسه کړي دي، خو په دې توګه هغه مغروره سوى وي.

د ده مثال د هغه ناروغه دى چي د ډاکټر کتنځي ته ورځي. د ډاکټر خبري او د هغه لخوا د درملو د اغېزو په هکله معلومات و اوري، خو د ډاکټر په لارښوونه عمل ونه کړي اويوازي ډاکټر ته په ورتلو سره ګومان وکړي چي جوړ سوى دى. دغه راز د ده حال د هغه وږي دى چي يو چا ته ورسي له هغه څخه د خوندورو خوړو خبري واوري خو خواړه هيڅ نه وي.

نصيحت بايد په تاسي کي له موجودو ځانګړنو څخه يوې ته بدلون ور کړي او ورسره سم ستاسي کړني داسي بدلون و مومي چي لوى څښتن يې ومني او دغه کړني له دنيا څخه ستاسي د مخ اړولو لامل سي او تاسي لوى څښتن ته متوجه کړي. خو که نصيحت دغسي اغېزي په تاسي کي ونه ښندي نه دا چي ګټه نه لري، بلکي پر دې سربېره پر تاسي باندي حجت او دليل هم ګڼل کيږي.

نو که يوازي وعظ د خپل ځان د ژغورني لامل ګڼئ نو پوه سئ چي مغروره سوي او تېروتلي ياست.

## څلورم صنف: له مغرورانو څخه صوفي ډوله خلک دي

په دې ډله کي غرور او فریبکاري بېخي ډېره ده.

1- د دې صنف له مغرورانو څخه پرته له هغه چا چي لوی ښښتن ساتلی وي د دې زمانې صوفیان دي. هغوی په ځانګړو لباسونو، خبرو او کړو وړو مغروره سوي دي. لکه چي خپل ځانونه یې د رشتینو صوفیانو غوندي جوړ کړي او د هغو دکالیو په اغوستلو سره یې د هغو کړه وړه خپل کړي وي. دغه راز یې په سماع، نڅا، اوداسه او لمانځه کي د هغو الفاظ، آداب، مراسم، اصطلاحات او ظاهري احوال خپل کړي وي. پر مصلی د هغو غوندي ناست وي، سرونه یې کښته اچولي وي، په خبرو کي ساوي په شمېر کاږي، او نرم نرم ږغیږي او په دې ډول د متفکرینو چمونه کوي.

دې ډلي چي د صوفي ډولو خلکو دغه کړه وړه زده کړي دي ګومان کوي چي دغه چاري د دوی د ژغورني لامل کیږي. له دې امله هغوی خپل ځانونه نه ملامتوي او خپل نفسونه یې د هلوځلو، خواریو، د زړه په مراقبه، او د باطن او ظاهر په پېځلتیا له پټو او ښکاره ګنهونو څخه په پاکولو سره نه دي ترټلي. هو، دغه ټول تزویرونه د تصوف په منازلو کي په کار اچول کیږي.

په دې توګه دغه صوفي ډوله وګړي لکه مردار خواره سپي پر حرامو، مشبوهو شیانو او د واکمنو پر مالونو وردانګي او د لږو خوړو، یا څه پیسو یا نورو پر سر یو له بله په سیالي او رقابت کي سره لوېدلي وي او د هیڅ او پوچو شیانو پر سر یو پر بل حسد کوي.

له دوی څخه ځيني د مادي موخو لپاره بل بې عزته کوي او رسوا کوي يې. له دې امله د دې ډلي غرور او غولېدنه څرګنده ده.

د دوی مثال د هغي زړې ښځي غوندي دی چي واوري چي پاچا اتلان او جګړنان غواړي او انعامونه ورکوي، نو هغه ښځه هم خپل ځان د هغو په شان جوړ کړي او پاچا ته ورسي. پاچا هم هغه و ازمايي، خو وپوهيږي چي هغه يوه بد رنګه بوډۍ ده. نو هغې ته ووايل سي چي ته نه شرمېږې چي په پاچا ملنډې وهې. نو پاچا امر وکړي چي هغه د پيل پښو ته واچوئ. پيل هم هغه ترپښو لاندي کړي او ويې وژني.

2- د صوفي ډولو بله ډله تر مخکنۍ ډلي ډېره په غرور اخته سوې او تېروتلې ده. ځکه دوی نه سي کولای چي د پنډو جامو په اغوستلو او په لږو خوړو، نکاح او کورونو په قناعت کولو کي د رشتينو صوفيانو کړه وړه خپل کړي، نو په تصوف تظاهر کوي. البته څرګنده ده چي په تصوف متظاهر بله چاره نه لري بېله دې چي خپل ځان د رشتيني صوفي غوندي جوړ کړي. له دې امله د وړينو او ورېښمينو جامو پر ځای تر هغو لا ډېر بيي او رنګارنګ جامې اغوندي.

دغه ډله له ظاهري ګنهونو څخه هم ډډه نه کوي. باطني خو لا هلته پرېږده. د دوی موخه عياشي، د ځانو هوسايي او د واکمنو او نورو د شتو خوړل دي، خو د دې سره هم خپل ځانونه نېک چاري ګڼي.

د دې ډلي ضرر مسلمانانو ته د غلو تر ضرر زيات دی. ځکه دغه ډله د خلکو د زړو نو غله دي او په ظاهري سازوباز خلک غولوي.

نور هم د دوی پیښې کوي چې په دې توګه دوی د خلکو د هلاک لامل کیږي او تصوف بدناموي. که خلک د دوی په چلونو پوه سي، نو ښايي ګومان وکړي چې ټول اهل تصوف دغسې دي نو پر ټولو بد ووايي.

3- دصوفي ډولو بله ډله بیا د مکاشفې د علم، د حق د مشاهدې، له مقاماتو څخه د تېرېدو، په عین شهود کې د وصل اوملازمت او د لوی څښتن د قربت ادعاوي کوي. دغه بې چاره ګان د هیڅ ډول معرفت څښتنان نه دي او دغه وصول او رسېده يې لوی څښتن ته یوازې په خبرو او نامه دي. دوی خپل ځانونه د الفاظو په کړۍ کې را اېسار کړي دي اود هغو په پر له پسې تکرارولو سره ګومان کوي چې دغه الفاظ د لومړنیو او وروستنیو له ډېرې ښې پوهې څخه دي.

هغوی فقهاوو، د قرآن قاریانو، محدثینو، او نورو عالمانو ته په سپکه سترګه ګوري. خو د عوامو سره د هغو معامله څنګه ده؟ د عوامو سره په اړیکو کې د هغو کار تر دې پولې رسیږي چې بزګر خپل کښت او کرونده پرېږدي، اوبدونکی خپل اوبدل پرېږدي، څو یو څو ورځې د خپل شیخ په خدمت کې واوسي. هغه ويني چې شیخ هماغه تقلبي کلمې تکراروي، ګواکې له وحیو څخه خبري کوي او د نړۍ له اسرارو او رازونو څخه ږغیږي. په دې توګه ټول عالمان او د لوی څښتن بنده ګان کوچني ګڼي. د لوی څښتن د بنده ګانو په هکله وايي: هغوی خوار خسته مزدوران دي. د عالمانو په هکله وايي: هغوی د احادیثو په پردو کې نغښتي دي او له اسرارو نه دي خبر. خو خپله ادعا کوي چې حق ته رسېدلي دي او د لوی څښتن د مقربینو له

جملې څخه دي. په داسي حال کي چي هغوی د لوی څښتن په وړاندي له منافقو فجارو او د پوهانو په نزد له ناپوهو احمقانو څخه ګڼل کيږي. دغسي سړي هيڅکله کومه پوهه نه وي ترلاسه کړې او د هيڅ نېک خصلت درلودونکی نه وي، په پوهه کي هيڅ مقام نه لري. زړه يې په مراقبت کي هيڅ نه وي راوستلی او له هوا او هوس او د چټياتو له تکرار پرته په بل کار نه وي بوخت. خو که په بل يوه داسي کار بوخت سوي وای چي ګټه يې ور رسولای ډېر به ښه وای.

4- بله ډله بيا تر مخکنۍ ډلي نوره هم وړاندي تللې ده. دوی ښه اعمال ترسره کوي، په حلالو پسي ګرځي او زړه ته په پاملرنه لګيا دي. له هغو څخه به يو وينې چي داسي حالت يې موندلی چي د زهد، توکل، رضا او حب مقاماتو ته د رسېدو ادعا به کوي، ببله دې چي د دې مقاماتو په حقيقت پوه سوی وي او د هغو په شروطو، نخښو او آفاتو خبر سوی وي.

ځيني د وجد او د لوی څښتن د ميني ادعا کوي او فکر کوي چي د لوی څښتن په حب او مينه کي ډوب سوی دی. ښايي چي د لوی څښتن په هکله فاسد خيالونه هم په سرکي ولري، چي پايله يې په دين کي بدعت يا کفر وي او بيا هم تر دې دمخه چي د لوی څښتن معرفت حاصل کړي، چي دا خبره هيڅ متصوره نه ده، ښايي د لوی څښتن د ميني ادعا وکړي.

په دغسي حال کي دغه سړی د تل لپاره په هر هغه څه چي لوی څښتن يې نه خوښوي، لګيا کيږي. خو کله ناکله داسي هم کوي چي خپل نفساني خواهشونه د لوی څښتن د اوامرو په وړاندي قرباني کړي او له خلکو څخه د شرم له امله د ځينو چارو له تر سره کېدو

ځخه ډېره وکړي. خو په پټه له خدایه نه شرمیږي او بد کارونه نه پرېږدي او نه پوهیږي چي دغه ټولي چاري د لوی ښتن د حب او مینې سره تناقض لري.

له دوی ځخه ځیني د قناعت سره مینه ښیي، توکل کوي او غروته مخه کړي، خو د لاري ځوری نه اخلي، ځو په دې ډول خپل توکل په ثبوت ورسوي. خو خوارکی نه پوهیږي چي دا کار بدعت دی، ځکه د غسي توکل روح په مخاطره کي اچوي او بې توښې غروته مخه نیول دي، چي له هیڅ صحابي یا د دې امت له اولنو ځخه نه دی نقل سوی. په داسي حال کي چي هفوی د توکل په هکله تر دې ډلي ډېر عالمان وه.

صحابه وو او همداراز اولنو به د هر سفر لپاره د لاري توښه ورسره اخیستل. خو هغو به پر لوی ښتن توکل درلود، نه پر توښه. په داسي حال کي چي ډېر کېدای سي دغه ډله توښه پرېږدي او په نورو اسبابو چي د دوی زړونه په تړلي وي متوسل سي. په هر ژغورونکي مقام کي غرور او غولېدنه سته او یوه ډله په غره سوې وي. موږ په مقاماتو کي د آفاتو سرچینې د احیا ء علوم الدین کتاب د منجیاتو په ربع کي بیان کړي دي.

5- بله ډله بیا د خوړو په هکله خپلو نسونو ته سغون ورکوي. ان په ببخي سوچه حلالو خوړو پسي ګرځي. خو دوی بیا خپلو زړونو او د بدن غړو ته پاملرنه پرې ایښې ده او یوازي همدغه یوه خصلت ته ارزښت ورکوي.

له دوی ځخه ځیني په خوړو، کالو او کار کي له حلالو ګټه اخلي او په دې چارو کي زیات تعمق کوي، خو نه پوهیږي چي لوی ښتن

له بنده څخه له بشپړو طاعتونو پرته نه خوشاله کیږي. که څوک په ځینو چارو کي د لوی څښتن امر پر ځای کړي او په ځینو کي یې نه کړي پر ځای دغه څوک هرومرو مغرور او غولېدلی دی.

6- بله ډله بیا د ښو اخلاقو او تواضع او تېرېدني ادعا کوي. دوی پتېیلې ده چي د صوفیانو چوپړ ووهي. په دې موخه یې یوه ډله برابره کړې او خپل ځانونه یې د هغو په خدمت مکلف کړي دي. په دې توګه یې د دنیا د واکو د په لاس راوړلو لپاره یو جال غوړولی دی چي د هغه په وسیله شته ټولوي او ګټې ترلاسه کوي او موخه یې هم په حقیقت کي همدغه ده اوبس. هغوی خو په خدمت کولو او تواضع تظاهر کوي او ادعا کوي چي موخه یې لورېینه، خدمت او له ښو خلکو پیروي ده، اما په عین حال کي د حرامو او شبه ناکو شتو په ټولولو بوخت وي، څو هغه پر خپلو ملګرو ووېشي او خپله ډله او پیروان ډېرکړي او په دې ډول خدمت کولو سره یې نوم دلته او هلته واخیستل سي.

له هغو څخه ځیني له واکمنو او ظالمانو څخه پیسې اخلي، څو هغه د حج په سفر کي پر صوفیانو ووېشي. دغه کسان په دې کار سره ګومان کوي چي موخه یې نېکي او ښندنه ده او دوی د ښو چارو ترسره کوونکي دي. په داسي حال کي چي د دې ټولو چارو انګېزه هماغه ریا او ځان ښوونه ده. ځکه دې ډلي د لوی څښتن ټول اوامر پرې ایښي دي او په دې خوښ دي چي حرام ترلاسه کړي او پر خلکو یې ووېشي.

د هغه چا مثال چي حرام شته د حج په لار کي لګوي د هغه چا دی چي مسجد ودانوي خو ودانيز توکي يې له نجاساتو او ناپاکو شيانو څخه وي او د دې سره سره ګومان کوي چي د مسجد ودانۍ جوړوي.

7- بلې ډلي خپل ځانونه په مجاهده او د اخلاقو په تهذيب او سپېڅلتيا او د نفس له عيبونو څخه د هغه په پاکي بوخت کړي او په دې هکله يې ژوري څېړني ترسره کړي او دغه د نفس په عيبونو کي څېړني او د هغه د چلونو پېژندل يې د علم او کسب او کار په توګه جوړ کړي دي. چي په دې توګه يې په ټولو اروايي مسايلو کي پوهه او فهم تر لاسه کړی او د نفس عيبونه يې د هغه په آفاتو کي د خبرو په دقيق استنباط حفظ کړي او وايي چي دا په نفس کي عيب دی او د عيب له شتون څخه غفلت پخپله عيب دی او هغوی په دې لار کي د پرله پسې او اوږدو کلمو څخه کار اخلي او په دې لار کي يې خپل وختونه ضايع کړي دي. ځکه دوی د خپلو نفسونو سره اخته دي او د خپل پروردګار سره اړيکي نه لري. د دوی مثال د هغه چا دی چي د حج په وختونو او د هغه په مسايلو بوخت سي، خو د حج سفر ونه کړي. څرګنده خبر ده چي د حج په وختونو او د هغه د مسايلو په بوختېدلو څوک نه حاجي کېږي. نو له دې امله دغسي څوک هم مغرور اوتېروتلی دی.

8- بله ډله بيا تر دې پولو وراوښتې، د تصوف په لار کي سلوک ته ور دننه سوې او د معرفت ورونه پر پرانيستل سوي وي.

څنګه چي يې د معرفت وړمه تر سږمو سوې، ډېر په خوشاله سوي او ورته په تعجب کي سوي دي او د هغه عجيبو مسايلو اريان کړي وي. له دې امله يې زړونه د دغه لوري کتو او په هغه کي فکر وهلو ته متوجه کړي وي. دوی پر دوی باندي د معرفت د وروںو پرانيستني او پر نورو باندي د هغو تړني په انديښنه او خرخښه کي اچولي دی چي دا هم غرور او غولېدنه ده.

ځکه د لوی ښتن د لاري عجايب خورا ډېر دي. نو هر څوک چي يوې اريانوونکي چاري ته ودرېږي او ځان په مقيد کړي او مخ په وړاندي يې ګامونه لنډ سي، موخي ته له رسېدو څخه بې برخي کيږي.

د دغسي چا مثال د هغه چا دی چي يوه واکمن ته ورسي، خو د دربار په وره کي داسي يو بڼ ووينې چي له ګلونو ډک وي او په ډېرو ښکلی سوی وي او د مخه يې هيڅ نه وي ليدلی، نو دی ورته ودرېږي، د بڼ په سيل بوخت سي او په دې ډول د واکمن سره د ليدو وخت ځني تېر سي او ببله کومي نتيجې ببرته وګرځي.

9- بله ډله بيا تر دې پولو ور تېره سوې وي او هغو انوارو ته چي د خدای په لار کي د هغو له فيوضاتو برخمن سوي وي ونه ګوري او د لاري په اوږدو کي ښکلو عطاياوو ته چي په آساني ترلاسه کيږي پام وانه ړوي او نه د توقف نخښو ته توجه کوي، بلکي په خپلو تلو کي نور هم چټک سي او کله چي

وصل ته نژدې سي ګومان وکړي چي موخي ته رسېدلی دی. په دې ډول توقف وکړي، تر هغه ځای ورتېر نه سي او تېروزي. خو دوی نه پوهیږي چي لوی ښښتن لره له نور او تیارو څخه اویا حجابه دي او سالک له دغو پردو څخه یوې ته هم نه رسیږي، مګر هله چي ګومان وکړي چي هغې ته رسېدلی دی. دې ته لوی ښښتن د ابراهیمؑ لخوا داسي اشاره کړې ده:

﴿فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗا﴾ [الأنعام: 76].

ژباړه: «بیا چي کله د شپي تیاره پر را خپره سوه نو یو ستوری یې ولید...».

په دې مقام کي د بنده او لوی ښښتن تر منځ بېخي ډېري پردې دي. لومړۍ پرده د بنده او د هغه د خدای ترمنځ د انسان نفس دی. ځکه نفس د لوی ښښتن یو ستر امر دی او هغه د لوی ښښتن له انوارو څخه یو نور دی. یعني د زړه سِر او راز چي لوی ښښتن د حق حقیقت لکه څنګه چي دی په هغه کي ځلوي. ان چي ټوله عالم د هغه په وړاندي تنګ دی او ټول انځورونه د هغه په احاطه کي راځي. نو دلته دی چي د هغهﷻ نور په خپل ټول سترتوب ځلیږي، او په هغه کي ټول وجود لکه څنګه چي دی څرګندیږي. خو په لومړیو کي هغه راز په یوه داسي تاخچه کي وي چي په پرده کي پوښلې وي. څنګه چي د هغه نور پر وځلیږي او د زړه جمال د لوی ښښتن د نور تر اشراق وروسته پر څرګند سي، نو ډېر کېدای سي چي د زړه څښتن

خپل زړه ته وګوري او د هغه بې سرحده جمال ووينې او دغه مهال له سده ووزي. او ډېر داسي کېدای سي چي په دې مقام کي ووايي: انا الحق. نو که تردې مقام ها خواته ور څرګند نه سي او په دې پوله کي پاته سي هلاکيږي.

په همدغه معنا دی چي عېسويانو مسيحؑ ته وکتل، او چي د لوی څښتن د نور اشراق يې په هغه کي وموند تېر وتل. لکه څوک چي کوم ستوری په هينداره يا اوبو کي ووينې او ګومان وکړي چي ستوری په هينداره يا اوبو کي دی او لاس ور وغځوي چي هغه ونيسي. نو دغه سړی غولېدلی دی.

د لوی څښتن پر لوري د سلوک په لار کي د غرور او غولېدني ډولونه تر شمېر تېر دي او د ټولو خفي علومو تر شنني د مخه پای ته نه رسيږي. البته دا له هغو شيانو څخه دي چي د يادولو اجازه يې نسته او دغونه يې څرګندول روادي چي څوک په مغروره نه سي.

وبالله التوفيق وهو حسبي ونعم الوكيل، ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم وصلى الله على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

## د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالك (همت)**

- د پلار نوم یې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال یې ۱۳۳۲ لمریز.
- په اسلامي او ټولنیزو علومو کي یې خصوصي زده کړي کړي دي.
- د نجیب د واکمن کېدو په لومړیو کي له هیواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بیا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هیواد ته راستون سو او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په لیکلو بوخت دی.
- تر اوسه یې لاندي آثار لیکلي دي:

1- د همت چیغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ ل.کال خپره سوې ده.
2- سید جمال الدین افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ ل.کال خپره سوې ده. په ۱۱۳۸۹.کال دوهم ځل خپر ه سوه.
3- زموږ د قبلې تاریخ (دمکې مکرمې تاریخ) په۱۳۸۵.کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دریم ځل خپور سو.
4- زموږ د نبي مېنه (د مدینې منورې تاریخ) په ۱۳۸۵ ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

5- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو.

6- د مقالې ليکلو اصول په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۸ل. کال دوهم ځل خپور سو.

7- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ل.کال خپور سو.

8- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.

9- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.

10-زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ل.کال خپور سو.

11- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ل.کال خپره سوه.

12- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.

13- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.

14- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.

15- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ.په ۱۳۸۹ل.کال خپور سو.

16- د حق او باطل د جګړې په هکله (۲۵) مقالې(ژباړه) په ۱۳۸۹ل. کال خپره سوه.

17-د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ۱۳۸۹ل. کال خپره سوه.

18- راځي توبه وکاږو، د خپرېدو کار يې روان دی.

19-د کلمې شريـفي حقيقت (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال دوهم ځل خپره سوه.

۲۰- غرور او د هغه علاج (ژباړه) لومړی په ۱۳۸۸ل.كال خپره سوه. او س دا دی دوهم ځل خپره سوه.

- پر دې سربېره یې د هیواد په دننه او دباندې كي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.
- د ليكوال د ګرځنده تليفون لمبر:0093 700300167
- د ليكوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:

**himmat_afg@yahoo.com**